د لوړو زده کړو وزارت

آلفلاح پوهنتون

علومو پوهنځی د حقوقو او سیاسي

اداري او ډیپلوماسی څانګه

د لسانس دورې پایلیک

# د ډیورنډ په کرښه د تېر شوي آغزن تار حقوقي آرزونه


**لیکونکی: حمیدالله دریځ**

**لارښود استاد: حشمت الله رحمتي**


**کال:.............................................................. ۱۴۰۰هـ ش**

بسم الله الرحمن الرحیم

**لنډيز**

اميرعبدالرحمن خان د خپل تره امير شيرعلي له امله په تاشكند كې و د امير شيرعلي خان د واكمنۍ وروسته انګريزانو اميرعبدالرحمن خان له تاشكند نه راوست او په تخت يې كېناوه او د نوموړي څخه يې د بهرني سياست اختيار واخيست او يوازې په داخلي چارو كې يې خپلواكي وركړه.

هماغه و چې انګريزانو د هنري ماټيمر ډيورنډ په رالېږلو سره د ډيورنډ كرښه رامنځته كړه دا كرښه د امير عبدالرحمن خان او د بريتانوي هند د بهرنيو چارو د وزارت مرستيال هنري ماټيمر ډيورنډ لخوا په كال (۱۸۹۳م) كال كې د نفوذ ساحې په توګه رامنځته شوې وه.

افغان چارواكو له هماغه پيل راهيسې هېڅكله د ډيورنډ كرښه د سرحد په توګه نه ده منلې. اميرعبدالرحمن خان په خپلو يادښتونو كې دا يوه موقته او پر زور تپل شوې كرښه بللې او هيله يې ښكاره كړې چې يو وخت به بريتانويان له هند وځي او افغانان به خپله نيول شوې خاوره بېرته ترلاسه كوي.
په امير عبدالرحمن خان پسې، امير حبيب الله خان، امير امان الله خان او نادرخان راغلل، چې هر ځل بريتانوي هند اړ كړي دي چې د دې تړون دوام تائيد كړي، دا كار خپله د دې تړون پر موقتوالي دلالت كوي.

د ډيورنډ تړون په پروسيجر كې د امير حقوقي او سياسي باور د انګلستان د هند مستعمره هيواد د يو وزير يعني ډيورنډ سره په يوه كچه كې واقع و. لدې كبله د ډيورنډ تړون د نړيوال حقوقي پروسيجر له مخې، د دولتونو ترمنځ كوم تړون نه شي ګڼل كېدلی.

بل دا چې د دولتونو ترمنځ يو تړون بايد د خلكو د استازو له خوا په پارلمان كې تصويب شي له يوې خوا داسې كوم سند چې د ډيورنډ تړون د انګلستان د عوامو مجلس له خوا تصويب شوی وي، په لاس كې نه شته، د بلې خوا، په افغانستان كې هغه وخت پارلمان موجود نه و لويه جرګه موجوده وه او د لويې جرګې لخوا هم د ډيورنډ تړون نه دی تصويب شوی.

د ډيورنډ موافقه ليک څخه (۱۲۸) كاله تېرېږي. پدغه موده كې د افغانستان د (۲۰) حكومتونو له جملې څخه (۴) لومړنيو حكومتونو، د باندني ګواښ او فشار لاندې د ډيورنډ كرښه منلې وه او (۱۶) نورو حكومتونو د هغې په وړاندې په رسمي يا غير رسمي توګه اعتراض او احتجاج ښودلی دی.

د افغاني حكومتونو سربېره، د (۷) دورې ملي شورا هم خپل دريځ، د (۱۹۴۹م) كال په جولای كې په ښكاره توګه د ډيورنډ تړون په خلاف، اعلان كړ.

## فهرست


مخ

سریزه ............................................................................................................. ۱

د موضوع اهمیت .................................................................................................. ۱

د موضوع ستونزه ................................................................................................. ۱

د څېړنې تګلاره ................................................................................................... ۲

پخوانیو لیکنو ته منطقي کتنه ....................................................................................... ۲

**لومړی فصل**

**د ډیورنډ کرښه او آغزن تار**

لومړی مبحث: عمومي مطالب ..................................................................................... ۳

لومړی مطلب: د ډیورنډ تړون مادې ................................................................................ ۴

دویم مطلب: آیا د تړون په متن د امیر لاسلیک موجود و که نه؟ .............................................. ۷

دریم مطلب: قبایلي سیمو کې د پاکستاني پوځ وړاندې راتګ ................................................. ۸

څلورم مطلب: د اغزن تار په تړاو د مطرحو اشخاصو څرګندونې او مرکې .................................. ۱۰

پنځم مطلب: د اغزن تار د تېرولو عوامل ....................................................................... ۱۲

شپږم مطلب:د ترهګرۍ په کمښت کې د اغزن تار رول ........................................................ ۱۳

اووم مطلب: په پاکستاني ریاست کې د قبایلي سیمو ادغام ..................................................... ۱۳

اتم مطلب: د اغزن تار اړوند د افغان حکومت دریځ ............................................................ ۱۴

نهم مطلب: د ډیورنډ لاین تړون ................................................................................... ۱۵

لسم مطلب: د کرښې په اړه ګومانونه .............................................................................. ۱۷

یوولسم مطلب: د ډیورنډ کرښې په اړه اړین ټکي ............................................................... ۱۹

دولسم مطلب: د افغانستان او پاکستان حکومتونو ترمنځ پر کرښه نښتې ..................................... ۲۴

دیارلسم مطلب: د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پولې لانجه او د امریکا دریځ ...............۲۵

## دویم فصل

## د ډیورنډ تړون حقوقي ارزونه

لومړی مبحث: د ډیورنډ تړون د حقوقي اړخ لنډ تاریخ ..........................................۲۷
لومړی مطلب: د نړیوالو حقوقو په رڼا کې د ډیورنډ تړون ارزونه ...............................۲۸
دویم مطلب: د نړیوالو تړونونو د حقوقي اعتبار بنسټیزو اصولو سره د ډیورنډ تړون مقایسه.۳۱
دریم مطلب: د نړیوال تړون د نسبیت اغېز په ډیورنډ تړون ......................................۳۴
څلورم مطلب: د دولتونو د وراثت موضوع کې د پاکستان موقیف ...............................۳۶
پنځم مطلب: د یو تړون د اجرا او تطبیق پروسیجر پرتله د ډیورنډ تړون سره ...............۳۷
شپږم مطلب: د نړیوالو قوانینو په رڼا کې د ډیورنډ مشروعیت ..................................۳۸
اووم مطلب: د ډیورنډ تړون مصوبه نه مسوده ده ..................................................۴۰
اتم مطلب: د ډیورنډ کرښې اخوا قومونو اړوند د انګلیس سیاست ..............................۴۲
نهم مطلب: د پښتنو په وړاندې د ټولپوښتنې دسیسه ...............................................۴۳
لسم مطلب: د اروپایي ټولنې مرستیال د ډیورنډ په کرښه دې بیا له سره کتنه وشي...........۴۵
یوولسم مطلب: د ډیورنډ کرښې اخوا د پښتنو د مبارزو پایله ...................................۴۶

حمیدالله دریځ

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**سریزه:**

الحمد الله رب العامین والصلاة والسلام وسلام علی رسوله محمد صلی الله علیم وسلم وعلی اله و اصحابه و من تبعهم باحسان الی یوم الدین.

اما بعد: فاعوذ باالله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم.

د ډیورنډ کرښه د افغان امیر (عبدالرحمن خان) او بریتانیا د بهرنیو چارو د مرستیال وزیر (هنري مارتیمر ډیورنډ) لخوا په (۱۸۹۳م) کال کې د سیاسي نفوذ ساحې په توګه لاسلیک شوه، د دې کرښې څه باندې یوه پیړۍ تیریږي چې له هغه وخت راهیسې یې تر ننه یو لوی ملت د یو بل څخه جلا کړی دی او هم یې د ډیرو لویو ستونزو سره لاس او ګریوان کړی. چې دا د یو ملت په حق کې د وخت استعمارګرې بریتانیې او تزاري روسیې لخوا ستر ظلم شوی چې تر ننه پورې له ځان سره منفي نتایج لري.

**د موضوع اهمیت:**

1. ماته د دې موضوع اهمیت دا دی چې د ډیورنډ کرښې په اړه مې پدې څیړنه کې ډیرمعلومات ترلاسه کړل او په ډیرو واقیعتونو پوه شوم.
2. ټولنې ته د دې موضوع اهمیت دا دی چې ولس ته به د ډیورنډ کرښې د رد لپاره معقول دلایل په لاس ورشي، او ورسره به د خپلو مشرانو له تیروتنو او ناکامو سیاستونو پند واخلي او هم به د دښمن کرغیړن اهداف ورته مشخص شي.
3. د ډیورنډ کرښه د افغانستان لپاره یوه ملي او حیاتي موضوع ده چې د دې کرښې له منځه تلل او یا د کوزې پښتونخوا د پښتنو خود مختاریدل افغانستان د تروریزم څخه د خلاصون په مانا دی او هم ورسره پرمختللی او ارام کیدای شي.

**د موضوع ستونزه:**

د ډیورنډ تړون د لاسلیک په اړه تاریخ پوهان په یوه خوله نه دي چې آیا امیر عبدالرحمن خان د ډیورنډ تړون انګلیسي او دري متنونه او ورسره مل نقشه ټول لاسلیک کړي که نه؟

**د څېړنې تګلاره:**

زما د څېړنې زياته بنه کتابتوني ده د معتبرو کتابونو او همدارنګه د انترنيټ نه مې هم استفاده کړې ده او د رسنيو سره د يو شمېر مطرحو اشخاصو نظريات هم پکې راټول شوي دي زما دا څېړنه په سريزه، دوه فصلونو، پايله، وړانديزونه او ماخذونو مشتمله ده او په سريزه کې مې د موضوع اهميت، د موضوع ستونزه، د څېړنې تګلاره او پخوانيو ليکنو ته منطقي کتنه ذکر کړي دي.

**پخوانيو ليکنو ته منطقي کتنه:**

امله وال شېرعلم، د حامد کرزي لنډ مهاله او منځمهاله واکمني (۱۳۹۳هـ ش) جلال اباد، مومند خپرندويه ټولنه. موضوع، قبايلي سيمو کې د پاکستاني پوځ عمليات او وړاندې راتګ. ما د دې موضوع عمومي مطالب پدې څېړنه کې راخيستي دي.

حکيم زی ډاکټر بدرالحکيم، د پښتونخوا لنډه مطالعه (۲۰۱۸م) پېښور، خورونکی مشال پښتو ادبي ثقافتي ټولنه مټه سوات. موضوع، د ډيورنډ لاين ترون. د دې ليکنې يوه برخه چې زما د څېړنې سره يې سمون درلود ما راخيستې ده.

خليلي ذاهد، د افغانستان او پاکستان اړيکې (۱۳۹۸هـ ش) جلال اباد، مومند خپرندويه ټولنه. موضوع، پر کرښه نښتې. د دې موضوع مهمې نقطې مې پدې منوګراف کې راخيستې دي.

ډوګرا راجيف، ډيورنډ توره کرښه، ژباړن: بابرزی هيواد دوست (۲۰۱۹م) کابل، سولې خپرندويه ټولنه. موضوع، د کرښې په اړه ګومانونه. د دې موضوع لړ مواد چې زما د څېړنې سره يې سمون نه درلود لرې کړي مې دي نوره موضوع مې کټ مټ راخيستې ده.

شېرزاد پوهنوال منګل، د نړۍ سياسي مسايل دويم چاپ (۱۳۹۷هـ ش) جلال اباد، يار خپرندويه ټولنه. موضوع، پښتانه د ټول پوښتنې په يو بله دسيسه کې. دا موضوع مې په لږ تغير کټ مټ راخيستې ده.

شېرزاد محمد آقا، توره کرښه (۱۳۹۷هـ ش) کابل، خپرندوی خپله ليکوال. موضوع، د ډيورنډ کرښې په اړه ۱۱ اړين ټکي چې پوهيدل پرې پکار دي. دا موضوع ما لنډيز کړې ده د ډيورنډ کرښې په اړه اړين ټکي.

ليکوالان بيلا بيل، د ډيورنډ فرضي کرښه مقالو ټولګه (۱۳۹۶هـ ش) کابل، خپرندوی اکسوس کتابپلورنځی. موضوع، ډيورنډ يوه تحميلي او باطله کرښه. ما د دې موضوع عمومي مفهوم په پدې څېړنه کې ځای پر ځای کړی دی.

# لومړی فصل

## د ډيورنډ کرښه او آغزن تار

### لومړی مبحث: عمومي مطالب

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پښتنو نه منل شوې سرحدي پوله.

د ډيورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ هغه نږدې (۲۶۴۰) کيلو متره اوږده پوله ده چې لا تر اوسه پورې نه د افغانستان د حکومت لخوا او نه هم د کرښې په دواړو خواوو کې د ميشتو قومونو له خوا منل شوې. د ډيورنډ کرښې تړون د (۱۸۹۳م) کال څخه راوروسته د بريتانوي هند د حکومت او د افغان امير يانې اميرعبدالرحمن خان لخوا په خپلو سيمو کې د محدوديتونو د اغېز د لرې کولو لپاره ترسره شوه.[1]

چې بيا وروسته په هماغه وخت کې دا کرښه د هنري مارتېمر ډيورنډ د بريتانوي هند د بهرنيو چارو وزات د مرستيال په نوم ونومول شوه. دغه تړون په يوه پاڼه کې ليکل شوی چې (۷) لنډې مادې يې درلودې د اميرعبدالرحمن خان او هنري مارتېمر ډيورنډ لخوا د ځينو تاريخ پوهانو په اند لاسليک شو.

چې د دې تړونليک له شرطونو سره سم به د بريتانوي هند حکومت هيڅکله هم په هغو سيمو کې چې له دغې ليکې نه آخوا د افغانستان په لور پرتې دي لاسوهنه ونه کړي، او امير به هيڅکله هم په هغو سيمو کې چې له ليکې نه آخوا د بريتانوي هند په لور پرتې دي لاسوهنه ونه کړي.

د (۱۸۹۳م) کال څخه راوروسته افغان او انګليس په ګډه د نښې اېښودنې سروې پيل کړه چې کابو (۲۶۴۰) کيلو متره اوږده کرښه يې رانغاښتله چې په پايله کې د ډيورنډ کرښې د سترې لوبې يو خپلواکه سيمه د انګلستان او روسيې په ګټه رامنځته کړه.

دغه سره کرښه چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ پرته ده د ډيورنډ د کرښې په نوم ياديږي، چې دغه کرښه د بريتانيا د بهرنيو چارو د وزارت د مرستيال هنري مارتېمر ډيورنډ لخوا په کال (۱۸۹۳م) کال کې نومول شوې.[2]

---

[1] راجيف ډوګرا (۲۰۱۹م) ډيورنډ توره کرښه، ژباړن: بابرزی هيواد دوست، کابل، سولي خپرندويه ټولنه، مخ ۲۲

[2] محمد آقا شېرزاد (۱۳۹۷هـ ش) توره کرښه، کابل، خپرندوی خپله ليکوال، مخ ۳۴

**لومړی مطلب: د ډیورنډ تړون مادې**

د افغانستان او پاکستان ترمنځ دا کرښه چې د ډیورنډ په نامه یادیږي، د امیرعبدالرحمن خان د واکمنۍ په دوره کې د انګریزانو له خوا پر افغانستان د پیسو او وسلو په بدل کې وتپل شوه.

په تاریخي لحاظ ویلای شو چې د افغانستان هغه سیمې چې د ډیورنډ کرښې په هاخوا پرتې دي، د امیرعبدالرحمن خان له خوا پر انګریزي هند وپلورل شولې د ډیورنډ کرښه د یوې معاهدې پر بنسټ چې د انګریزانو له خوا هنري مارتېمر ډیورنډ ترتیب کړې وه، د افغان او انګرېز د ګډ کمیسیون له خوا کش شوه د پولې ټکي له واخان نه د ایران تر پولې پورې د افغانستان په شرقي او جنوبي سیمو کې په هر (۸۰) کیلومترۍ کې وټاکل شوې.[3]

د کرښې د کشولو پر وخت پام ونه شو چې کرښه کوم کلي، باندې او کورونه نیمايي کوي. د کرښې د کشولو پر وخت که به کومو کورونو یا کلیو نیوکې یا اعتراضونه کول، د انګرېز او افغان وسله والو له خوا به وهل، ټکول او هم وژل کېدل.

د امیرعبدالرحمن خان او هنري مارتېمر ډیورنډ ترمنځ د تړون متن په دې ډول وو. د افغانستان اوهندوستان ترمنځ د پولې په اړه ځینې پوښتنې رامنځته شوي دي. د افغانستان د امیر او د هندوستان د حکومت هیله ده چې دا پوښتنې د پولې د ټینګېدو په موخه د دوستۍ په فضا کې حل شي. د دې لپاره چې په راتلونکي کې د دواړو دوستو حکومتونو ترمنځ د واک د سیمو په اړه نور د نظر اختلاف رامنځ ته نه شي، پر لاندې تړون موافقه کیږي.

**لمړۍ ماده:** د افغانستان د امیر د واک جنوب شرقي سیمه له واخان نه د ایران تر پولې پورې چې د دې موافقې مل په نقشه کې ښودل شوې ده، په لاندې ډول موافقه کیږي.

**دوهمه ماده:** د هندوستان حکومت به هېڅ وخت کوښښ ونه کړي د دې کرښې په هاخوا د افغانستان په سیمه کې د خنډونو په موخه مداخله وکړي همدارنګه د افغانستان امیر به هېڅکله کوښښ ونه کړي د دې کرښې په دېخوا د هندوستان په سیمه کې د ستونزو په موخه مداخله وکړي.[4]

**دریمه ماده:** د بریتانیا حکومت موافقه کوي چې اسمار او د هغه اړونده سیمې تر چنک پورې د افغانستان امیر ته ورپرېږدي، په بدل کې د افغانستان امیر ژمنه کوي چې هیڅ وخت به په سوات، باجوړ، چترال او د هغو په اړوندو سیمو دعوه ونه کړي او هلته به هېڅ وخت مداخله

[3] میاخېل سخي سرور (۱۳۹۸هـ ش) د آزادۍ نارې او د مغلګي غمیره، کابل، خپرندوی اکسوس کتابپلورنځی، مخ ۶۲
[4] ایمل ساپی، پاڅون ویبپانه، د ډیورنډ تړون. http://pason.at/pushto/?page_id=489

ونه کړي. د بریتانیا حکومت موافقه کوي چې برمال او د هغه اړونده سیمې چې د دې تړون په مل نقشه کې ښکاره شوي دي د افغانستان امیر ته ورپرېږدي په بدل کې د افغانستان امیر پاتې سیمې د وزیریستان او داوړ په ګډون د همېشه لپاره له لاسه ورکوي.[5]

**څلورمه ماده:** د پولې کرښه او د هغې جزیات به د افغانستان او بریتانیا د ګډ کمیسیون لخوا په هغو ځایونو کې تعینیږي چې د عملي کېدو امکانات یې زیات او د غوښتنو سره برابره وي. کرښه به د پولې د ټینګولو په موخه د دواړو خواوو په موافقه په داسې ترتیب منځ ته راځي چې دواړه خواوې د هغې د ټینګولو مسولیت پرغاړه واخلي. د پولې د کرښې په تعینولو کې به چې د دې تړون مل په نقشه کې لیدل کیږي، د هغو کلیو او باندو چې پولې ته نږدې پراته دي، حقوق په نظر کې نیول کیږي.

**پنځمه ماده:** د چمن په سیمو پورې اړوندې پوښتنې به داسې حل کیږي چې د افغانستان امیر لخوا به د شیر اوبه لاندې سیمې د بریتانیا پر حکومت پلورلې بلل کیږي. په دې سیمه کې به د پولې کرښه داسې کش شي. د خواجه ارمان د غونډۍ سیمه چې پشه کوتل ته نږدې پرته ده، بریتانیا ته پاتې کیږي. د پولې کرښه به د مرغې او چمن په هاخوا د بریتانیا او افغانستان پوله د لښکر ډنډ په سیمه کې تعینوي. د پولې کرښه به د ریل سټېشن په هاخوا د میدان بولدک له غونډۍ نه تیریږي او په جنوبي برخه کې به په خواجه ارمان کې سره نښلول کیږي. د ګواښې سیمه به بریتانیا ته پاتې کیږي او د ښوراوک او ګواښې ترمنځ سړک به په افغانستان کې پاتې شي د بریتانیا حکومت ژمنه کوي چې له دې کرښې هاخوا په نیم میله واټن کې به مداخله نه کوي.[6]

**شپږمه ماده:** د دې تړون پورتنۍ مادې د هندوستان د حکومت او د افغانستان د امیر له خوا په رسمیت پېژندل کیږي او ټولې هغه ستونزې او د نظر اختلافات چې د پولې له کبله رامنځ ته کېدل، حل بلل کیږي. د هندوستان حکومت او د افغانستان امیر ژمنه کوي چې د پولې د کرښې د جزیاتو پر سر اختلافات به د دواړو خواوو د مامورینو له خوا د دوستۍ په فضا کې حل او فصل کیږي.

---

[5] (هماغه) سخي سرور میاخیل، مخ ۱۸
[6] (هماغه) محمد آقا شېرزاد، مخ ۵۴

**اوومه ماده:** د بریتانیا او د افغانستان د بشپړه خوښې په امید د بریتانیا حکومت د افغانستان استقلال او پیاوړتیا غواړي. د هندوستان حکومت به هیڅ وخت داسي کړنه ونه کړي چې د افغانستان سره د جګړې سبب شي. یو د بل په چارو کې نه مداخله به د هغوی د خپل ځانونو سره مرسته وي. دا چې د افغانستان امیر د دې تړون په اړه خبرو ته چمتو شو، د هندوستان حکومت ځان مکلف بولي، د افغانستان امیر ته له کاله (۶) لکه روپۍ زیاتي ورکړي چې جمله به د کال (۱۸) لکه روپۍ امیر ته ورکول کیږي.

لاسلیکونه:

هنري مارتیمر ډیورنډ

امیرعبدالرحمن خان

کابل ۱۲ نوامبر۱۸۹۳

د ځینو تاریخ پوهانو په وینا امیر عبدالرحمن خان دا تړون پر خپل سر بې له دې چې د لویي جرګې مشوره ترلاسه کړي، لاسلیک کړ او په دې ترتیب یې د افغان ولس سره نه جبران کېدونکی خیانت وکړ. د دې د مخه چې د امیرعبدالرحمن خان سره دا تړون لاسلیک شي، انګریزانو پښین، سیبۍ او خُرمتال رسماً د هندوستان په خاوره پوري تړلي اعلان کړل. څنګه چې انګریزانو ته د چمن علاقې او د کوړک غرونه زیات اهمیت درلود، ځکه یې د ډیورنډ تړون رامنځ ته کړ.[7]

د ډیورنډ کرښې وزیریستان، د مومندو سیمې، کوړک غر او د چمن سیمې له پلرني هیواد افغانستان نه جلا کړل. امیرعبدالرحمن خان ته د دې تړون د لاسلیک کولو په بدل کې د کال د (۱۸) لکو روپو په څنګ کې د (۱۸۹۳م) کال نه تر (۱۸۹۵م) کال پورې (۸۰) سپک توپونه (۱۷۳۴۰) د توپ ګولۍ (۳۳۳۰۲) ټوپکونه (۳۲۰۰) کارا بینه (۲۱) میلیونه د ټوپکو ګولۍ ورکړل شوې. د ډیورنډ د کرښې پر سر د تړون د لاسلیک کېدو په لمړیو کلونو کې د پښتنو په سیمو کې زیات پاڅونونه راوپاریدل چې په پایله کې یې زیاتو پښتنو میړونو خپل ژوند دلاسه ورکړ.

دا تړون اساساً له (۱۸۹۳م) کال نه تر (۱۹۹۳م) کال پوري د (۱۰۰) کالو لپاره ټاکل شوی وو، خو کوم وخت چې په (۱۹۴۷م) کال کې اوسنی پاکستان جوړ شو.

[7] ډاکټر بدرالحکیم حکیم زی (۲۰۱۸م) د پښتونخوا لنډه مطالعه، پېښور، خورونکی مشال پښتو ادبي ثقافتي ټولنه مټه سوات، مخ ۷۳

د ډیورنډ کرښه د ملګرو ملتونو له خوا د افغانستان او پاکستان ترمنځ رسمي پوله وپېژندل شوه.

په عادي حالت کې باید د افغانستان حکومت په (۱۹۹۳م) کال کې د دې سیمو لاس ته راوړلو ادعا کړې وی. خو څنګه چې افغانستان په کورنیو جګړو کې ډوب وو، د افغانستان سیاستوالو دې مهم ټکي ته پام ونه کړ.

د ډیورنډ کرښه تر اوسه پورې د افغانستان لخوا په رسمیت نه ده پېژندل شوې په لرې یا نږدې راتلونکي کې به د افغانستان او پاکستان ترمنځ د خونړیو جګړو سبب وګرځي.[8]

**دویم مطلب: آیا د تړون په متن د امیر لاسلیک موجود و که نه؟**

تاریخ پوهان پدې برخه کې، چې آیا امیرعبدالرحمان د تړون انګلیسي او دري دواړه متنونه او ورسره مل نقشه ټول لاسلیک کړي دي که نه، هم نظره نه دي. ځیني ځیرونکي نظر څرګندوي، چې ګنې امیرعبدالرحمان د موافقه لیک د دري متن سره مل نقشه باندې لاسلیک نه دی کړی او د موافقه لیک په متن کې د دواړو هیوادونو ترمنځ د پولې کلمه هم نه ده ذکر شوې.

خو د کابل پوهنتون د تاریخ پخوانی استاد او مشهور لیکوال پوهان محمد حسن کاکړ چې په لندن پوهنتون کې یې دوکتورا هم اخیستې په یوه مرکه کې چې تاند ویبپاڼې خپره کړې وایي:

زه خپله د خپلو تحقیقاتو په نتیجه کې دې ته رسیدلی یم دغه د ډیورنډ د توافق لیک متن لکه څنګه چې په انګریزي دی او خپور شوی دی دغه مشکوک دی دا دغسې یو توافق لیک نه دی چې د مارټېمر ډیورنډ (د هند د بهرنیو چارو وزیر) او امیر عبدالرحمن خان په ګډه لاسلیک کړی دی دا ماته په شک کې ده.

ځکه چې امیر عبدالرحمن خان ته یې د فارسي متن ورکړ شو او هغه ولوسته امضا یې نه کړ یعنې قبول یې نه کړ یوه نقشه چې د دې متن مل وه هغه یې ورته ورکړه هغه یې ولیدله ملاحظه یې ګړله او یوه کرښه یې هم پکې وویستله هغه یې هم امضا نه کړله د دې مانا دا چې نه یې دغه نقشه امضا نه کړله او نه یې د فارسي متن امضا کړ نو وختې چې د فارسي متن یې امضا کړی نه دی د انګریزي متن چې دی (امیر) په انګریزي باندې نه پوهیده امکان نه لري چې هغه به ده امضا کړی وي.

---

[8] (هماغه) راجیف ډوګرا، مخ ۲۳

خو په هر حال ما چې په دغه موضوع کې د کابل وزارت خارجې دوسیې د امیر عبدالرحمن خان د وختو ما کتلې او په ډهلي کې ارشیف کې په همدغه موضوع کې ما تحقیق کړی او یا د هغه نه زیات په لندن کې دوه نیم کاله همدغه ورقې ما لیدلې او کتابونه مې پرې لیکلي دي ما دغسې یو توافق لیک چې هلته د دواړو لاسلیک وي نشته او ما نه دي لیدلي

بیا برسیره پر دې دغه د توافق لیک متن باندې امیر عبدالرحمن خان په ټوله مانا عمل نه دی کړی.

مثلا: توافق لیک خو په (۱۸۹۳م) کال کې رایستل شوی دی (۳) کاله یې ونیول چې دا په ساحه کې تطبیق کړي اما دغه تطبیق برخه کې امیر عبدالرحمن خان لکه څنګه چې متن دی په ساحه کې هغه سره یې موافقه نه ده کړې.[9]

## دریم مطلب: قبایلي سیمو کې د پاکستاني پوځ وړاندې راتګ

پاکستان د القاعده او تروریزم سره د جګړې تر نامه لاندې افغانستان ته څېرمه په قبایلي سیمو کې پوځي عملیات پیل کړل، خپل عسکر او ملېشې یې ځای پر ځای او دا سیمه یې تر خپل کنترول لاندې راوسته، دا هغه سیمه وه چې انګریزانو هم خپل عسکر په مستقیم ډول نه ورلېږل او نه هم پاکستان تر جوړیدو راهیسې د پوځ لېږلو جرئت کولو، دا سیمې خود مختاره قبایلي سیمې وې او د قبایلي دود حاکمیت درلود، د پاکستان قانون او پوځ برلاسي نه درلوده. د انتقالي دورې په اوږدو کې پاکستاني پوځونه (۴۵) کیلومترو په شاوخوا کې د افغانستان خاورې (قبایلي سیمو) ته ننوتل، دوی د ننګرهار ګوشتي او لالپورې ولسوالیو اړوند د کوډاخېلو، یعقوبیو، څلورسري، ګوسړی، لوړ غابښي، جغفر ګټ، شنو بروسه او انارګي سیمې ونیولې او هلته د مورچلو په ټینګولو، بنوونځیو، سړکونو په جوړولو او د سیمو خلکو ته د برېښنا په غزولو بوخت شول.

I.W.P.R (Institute for War and Peace Reporting) اژانس ته د مومندو یو تن سپین ږیري حاجي یار محمد ویلي وو:

پاکستاني ځواکونه په زور سره راغلل، موږ د خدای هڅې وکړې چې مخه یې ونیسو، خو زور مو ونه رسید، آن تردې چې د کوډاخېلو په سیمه کې د حاجي متین زوی د خپل تېلو د پمپ پر سر د افغانستان جنډه درولې وه، تر درې ساعتو پورې جهانزیب د حاجي متین زوی د کلاشینکوف سره ولاړ و او پاکستاني پوځ ته یې د جنډې د ښکته کولو اجازه نه ورکوله.

---

[9] پوهاند ډاکټر حسن کاکړ، تاند ویبپاڼه، د ډیورنډ سند. https://youtu.be/WNyvYtmOH00

د مومندو يو بل قومي مشر سيد عمر پهلوان وويل: د كارمل په واكمنۍ كې د خاپخ ورغاړه سيمې روسانو بمباروله نو د پاکستان حکومت به ويل چې دا سيمې د افغانستان دي او هلته د مجاهدينو غونډونه پراته وو.

پاكستانى سياستوال عبداللطيف افريدى هم دا مني چې د افغانستان پر خاوره تېرى شوى د پاکستان د بشري حقونو مشر افراسياب ختک هم وايي چې په عنعنوي شکل دا سيمې د افغانستان مربوط دي. پدې ډول پاکستاني پوځونه د مومندو سيمې ته ننوتي او د افغانستان په خاوره يې خيټه واچوله، د سيمې مشرانو د ننګرهار ولايت مقام او مرکزي حکومت سره اړيکي ټينګې کړې خو هېڅ نتيجه يې ورنه کړه او د دوی مرستې ته افغان دولت حاضر نه شو، په هغه وخت کې د ننګرهار سرحدي پوليس هم د ولسمشر کرزي فرمان ته منتظر وو چې ورته د وړاندې تګ حکم وشي خو حامد کرزي يوازې يوه تريخه او تونده مطبوعاتي وينا وکړه او بس.

په افغانستان كې مېشت امريكايي ځواكونو وويل: دا د دواړو هيوادو كورنۍ معامله او موضوع ده او موږ ورسره كار نه لرو.

پاكستان د امريكا په مرسته او ملاتړ د تروريزم پرضد د جګړې په نامه هغه سيمې تر خپل واک لاندې راوستې چې هېڅكله يې په خوب كې هم نه ليدلې، د هغه وخت د پاكستان ولسمشر سلاكار او نورو مشرانو له رسنيو سره په مركو كې وويل چې موږ پر خپل پوځ او ملېشو وياړو چې ويې كولى شول په ډېرې اسانۍ سره هغه سيمې ونيسي چې موږ په سلو كالو كې هم نه شوې نيولې.

په دې حساسه مرحله كې پاكستاني دولت دوه ګټې په پام كې ونيولې، يو دا چې پر قبايلي سيمو يې كنترول پيدا كړ او د افغانستان خاورې ته ننوتل، كه افغان دولت ترې وغواړي چې د ډيورنډ كرښې هغې غاړې ته بېرته ور وګرځي نو دې سره به د ډيورنډ كرښې ته مشروعيت وركړل شي، بيا به ادعا وكړي چې دا دى دا سيمه خو زموږ خپله ده، همدارنګه خپل (۸۰۰۰۰) زره پوځيان يې په دې سيمه كې ځای پر ځای كړل او نړيوالو ته يې دا وښوده كه دا سيمه زموږ (پاكستان) تر كنترول لاندې نه وي نو ټولې نړۍ ته ترې خطر متوجې كېدای شي.

پاكستان په افغانستان كې د مېشتو امريكايي ځواكونو په ملاتړ دا سيمه په خپل كنترول كې راوسته.[10]

### څلورم مطلب: د اغزن تار په تړاو د مطرحو اشخاصو څرګندونې او مركې

۱: د اغزن تار اړوند د عوامي نيشنل ګوند مشر اسفنديار ولي خان څرګندونې.

[10] شېرعلم امله وال (۱۳۹۳هـ ش) د حامد كرزي لنډ مهاله او منځمهاله واكمني، جلال اباد، مومند خپرندويه ټولنه، مخ ۱۳۰ ـ ۱۳۳

د پښتونخوا د عوامي نیشنل ګوند مشر اسفندیار ولي خان په کوزه پښتونخوا کې د پښتنو یوې غونډې ته په وینا کې وایي:

چې د پاکستان حکومت راپاڅېدلی دی وایي د ډیورنډ په کرښه اغزن تار او ماینونه لګوم ما په سنا مجلس کې ورته وویل چې موږ خو هندوستان نه تقسیموه تاسو تقسیموه پنجاب مو دوه برخې کړ تاسو ویل دا د مسلمان پنجاب دی دا به پاکستان شي او دا د سیک پنجاب دی نو دا دې هندوستان شي نن هغه د مسلمان پنجاب وزیر اعلی چهودري پرویز اعلی سیک ته امېل په غاړه کې ور اچوي ورته وایي زما او ستا ژبه یوه ده تاریخ مو یو دی تمدن مو یو دی راتر غاړه ووځه زه او ته خو ورونه یو په باډر باندې تګ راتګ ته اجازه ده ریل ګاډي او د تجارت ته اجازه ده.

خو که زه افغانستان ته مخ کړم او د افغانستان ولس ته ووایم زما او ستا ژبه یوه ده تاریخ مو یو دی کلتور مو یو دی او لویه خبره دا چې زما او ستا مذهب یو دی راتر غاړه اوځه ماته وایي د پاکستان غدار یې.

که د چا زړه ښه وي او که د چا زړه بد وي موږ به دا چغه وهو چې لر او بر یو افغان دی.

موږ ورته ښکاره ویلي دي چې موږ دا اغزن تار او ماینونه لګول د پښتون قوم تقسیم ګڼو او په هیڅ قیمت ورته تیار نه یو چې دا ومنو.[11]

۲: د اغزن تار په تړاو د ډاکټر حضرت عمر زاخیلوال مرکه.

په (۲۰۱۷م) کال کې په پاکستان کې د افغانستان د هغه وخت سفیر ډاکټر عمر زاخیلوال د مشال راډیو سره په یوه ځانګړې مرکه کې وایي:

موږ د اغزن تار پخوا هم مخالف و اوس یې هم مخالف یو او په راتلونکي کې یې هم مخالف یو هیڅ نوعه تفاهم د افغانستان سره د اغزن تار په لګولو ډیورنډ په کرښّ باندې نشته په (۲۱) پېړۍ کې چې دیوالونه د نورو هیوادونو ترمنځ موجود و نړول کیږي مګر د د ډیورنډ د کرښې اخوا او دیخوا یو خلک پراته دي یو قوم پروت دی د دوی ترمنځ د دیوالونو ایجاد نه خلکو ته د منلو وړ دی او نه د دوو ملکونو د روابطو په جوړیدو کې مثبت ثابیتیدای شي او په حقیقت کې د ترهګرۍ سره په مبارزه کې هم موثر نه دی د ترهګرۍ سره په مبارزه کې موثر هغه د پالیسیو تبدیلیدل دي هغه پالیسیانې چې د یو بل امن سره حمایه کړو یو د بل په هیواد کې د سولې حامي او ملاتړي اوسو هغه پالیسۍ پکار دي.

---

[11] اسفندیار ولي خان، افغان غبر پانه، اغزن تار. https://fb.watch/8rAJYNpnRW/

اغزن تار یو عرضي اقدام دی مګر زموږ روابط سره خرابولی شي او ښه کولی یې نه شي.[12]

۳: د اغزن تار اړوند د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ویاند خیرالله ازاد مرکه.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ویاند خیرالله ازاد په (۲۰۱۷م) کال کې د بي بي سي تلویزیون سره په مرکه کې ویلي:

افغانستان پدې باور دی چې د پاکستان لخوا د اغزن تار د لګولو اقدامات نه عملي دي او نه د تروریزم په مقابل کې موثر ګام دی هر هغه اقدام چې د افغانستان دولت سره په همغږۍ نه وي نو هغه د تروریزم سره په مبارزه کې نه عملي وي نه موثر وي او نه څه ګټه رسولی شي پدې اړه د افغانستان سره هیڅ مشوره نده شوې.[13]

۴: د اغزن تار اړوند د پښتون ژغورنې غورځنګ مخکښ مشر علي وزیر څرګندونې.

د پښتون ژغورنې غورځنګ مخکښ مشر علي وزیر د پښتنو یوې پراخې غونډې ته په وینا کې وایي:

پاکستان هندوستان ته بغیر د پاسپورت او بغیر د شناختي کارډ ورته لارې خلاصوي د موټر کرایه یې هم ورکوي د خوراک انتظامات هم ورته نیسي عبادت ځایونه ورته جوړوي او بیا وایي چې هندوستان زما ازلي دښمن دی.

بل طرف ته زموږ په ډیورنډ لاین باندې هغه طرف ته پښتانه وروڼه چې زموږ وروڼه دي که ناروغ شي نه یې پریږدي خو دا یوه یاده وساته دا کوم اغزن تارونه چې تا په ډیورنډ لاین باندې لګولي دي موږ ته د منلو نه دي نوموړی د پاکستان اسټبلیشمنټ ته په خطاب کې کړي یوه ورځ به دې دا تارونه په غاړه کې در اچوم.[14]

۵: د اغزن تار اړوند د سولې کاروان مشر حاجي ظاهر قدیر مرکه.

د سولې د کاروان مشر حاجي ظاهر قدیر طلوع نیوز تلویزیون سره په یوه مرکه کې وایي:

---

[12] حضرت عمر زاخیلوال، مشال راډیو ویبپاڼه، اغزن تار. https://youtu.be/39FRA4pIo0Y

[13] خیرالله ازاد، بي بي سي ویبپاڼه، په ډیورنډ کرښه اغزن تار. https://youtu.be/FzmlT57pxwc

[14] علي وزیر، پي ټي ایم بنو یوټوب، اغزن تار. https://youtu.be/SMhx_38Zcqw

دا زموږ قانوني حق دی او هم مو صلاحیت دی کله چې مسوولې اداري د وطن د طفري نقطو په ساتلو کې پاتې راځي نو هغه وخت بیا ولس مکلف دی او مسوولیت لري چې د خپلې خاورې نه او د خپل کور نه دفاع وکړي.

د اغزن تار په تېرولو کې یو لوی راز دی چې دوی (پاکستان) په مشرقي کې د کونړ سیند ته ځان رانږدې کړ ترڅو پوري په اینده کې افغانان ونشي کولای چې د کونړ په سیند باندې د اوبو یا د بریښنا یو بند ولري.[15]

**پنځم مطلب: د اغزن تار د تېرولو عوامل**

پاکستان په تېرو څلورو لسیزو کې د کرښې نږدې خپل فعالیت او نظامي حضور پراخه کړ.

د هېواد پاله قبایلي مشرانو لمنځه وړل، په قبایلي سیمو کې افراطیت ته وده ورکول، افغانستان او کشمیر کې فعاله د جهادي تنظیمونو او بیا د طالبانو مراکز جوړول او بلاخره په لوی لاس یادې سیمې نا امنه کول چې پوځي مداخلې ته بهانه جوړه کړي هاغه اقدامات دي چې پاکستان په تدریجي توګه ترسره کړل. له (۲۰۰۱م) کال راپدیخوا د ترهګرۍ سره د جګړې تر نامه لاندې پاکستان د امریکا په مالي مرسته په یاده کرښه په یو اړخیز ډول ګڼ شمیر پوځي چاونۍ جوړې او د اغزن تار په غځولو یې لاس پورې کړ.

د قبایلو سره شویو تېرویو ولس کې د پاکستاني ریاست په ځانګړې توګه د پوځ پر ضد زیاته کرکه زېږولې او اوسمهال یې د پښتون ژغورنې غورځنګ تر نامه لاندې پراخه مبارزه پیل کړې.

داسې لیدل کیږي چې له کله راهیسې چې قبایلو کې د حق غوښتنې وینښتیا او د پوځ پر ضد کرکه د پخوا په پرتله زیاته شوې پاکستان د ډیورنډ په کرښه اغزن تار غځولو ته سرعت ورکړی.

پښتانه له خپل تاریخ او دود دستور لرې ساتل د پاکستاني ریاست پخوانۍ تګلاره وه خو اوسمهال دوی فکر کوي چې د لر او بر ولسونو د اړیکو پیاوړتیا ګڼې پښتانه افغانستان ته نږدې کوي او د یوه ګواښ په سترګه ورته ګوري.[16]

**شپږم مطلب: د ترهګرۍ په کمښت کې د اغزن تار رول**

---

[15] حاجي ظاهر قدیر، طلوع نیوز ویبپانه، د اغزن مزو په وړاندې غبرګون. https://youtu.be/N7jHvJ0VDTI

[16] زردشت شمس، پژواک ویبپانه، ولي اغزن تار؟ (۲۰۲۰م) https://pajhwok.com/ps/2020/12/22/barbed-wire-to-prevent-terrorism-if-the-fear-of-an-afghan-above-and-below

تر اوسه داسې کوم ښکاره شواهد نشته چې ګڼې اغزن تار دې په تاوتريخوالي کې کمښت راوستی وي. د افغان لوري معلومات ښيي چې اغزن تار د ترهګرو په تګ راتګ او بريدونو کوم د پام وړ اغېز نه دی کړی.

د طالبانو په شمول نورې وسله والې ډلې لکه داعش او د هند کشمیر کې فعاله ډلې په اسانۍ سره په اغزن تار تګ راتګ کوي. همدا راز د نشه يي توکو قاچاقبران هم په ازاده توګه خپل کاروبار کوي او زيات شمير بازارونه يې هم د کرښې نږدې جوړ کړي د مثال په ډول اوسمهال د هلمند برامچه د سيمې په کچه د نشه يي توکو د سوداګرۍ په مرکز بدله شوې. په داسې حال کې چې دا ټول کاروبار د پاکستاني پوځ ترسترګو لاندې روان دی او دوی هلته ګڼ شمير پوځي پوستې لري.

د افغانستان خوا ته بيا نظامي حضور ډېر کمرنګه او په نشت برابر دی. همدا راز طالبان هم ياده سيمه کې پراخ حضور لري او د عوايدو لويه برخه يې هم له دې ځايه تمويلېږي.

**اووم مطلب: په پاکستاني رياست کې د قبايلي سيمو ادغام**

له تاريخي پلوه قبايلي سيمو د افغانستان او بريتانوي هند حکومتونو ترمنځ د يو بفر ساحې حيثيت درلود. د پاکستان په اساسي قانون کې هم قبايلي سيمو د (۲۰۱۸م) کال پورې ځانګړی حيثيت درلود او د نورو سيمو برعکس مستقيم د فدرالي حکومت لخوا اداره کېدې پاکستان د (۱۹۷۹م) کلونو پورې د افغانستان دريځ ته په کتو چې قبايلي سيمې يې د خپل نفوذ ساحې ګڼلې په يادو سيمو کې د پام وړ مداخلې څخه ډډه کوله.

همداراز د قبايلي ولس مرسته او ملاتړ د افغان حکومت لومړيتوب وو او د دې چارو د ښه تنظيم لپاره په (۱۹۴۷م) کال کې د قبايلو رياست رامنځته کړای شو چې وروسته بيا (۱۹۷۳م) کال کې د سردار محمد داود خان په حکومت کې يې وزارت ته ارتقاء ومونده. قبايلو په افغانستان کې د نورو افغانانو په څېر حقوق لرل.[17]

د زده کړو، سوداګرۍ او ان تر دولتي ماموريتونو پورې اسانتياوې او امتيازات ورکړل شوي وو. خو د (۱۳۵۷هـ ش) کال د ثور له کودتا وروسته د افغانستان حکومت د مجاهدينو پر وړاندې چې د پاکستان ملاتړ ورسره وو کمزورۍ شو او تدريج د ډيورنډ کرښې سره نږدې ساحې يې له لاسه ووتې. همدغه مهال پاکستان نه يوازې په قبايلي سيمو کې بلکې ان د کرښې دې غاړه ولايتونو ته يې هم پراخه لاسرسی پيدا کړ او لاسوهنه يې پيل کړه.

ملتپاله قبايلي مشران يې لمنځه يوړل يا يې پرې ډول ډول فشارونه راوړل ترڅو د پاکستان حاکميت ومني او افغانستان سره اړيکي پرې کړي.[18]

---

17 (هماغه) سخي سرور مياخيل، مخ ۳۳

18 پوهنوال منګل شېرزاد (۱۳۹۷هـ ش) دويم چاپ، د نړۍ سياسي مسايل، جلال اباد، يار خپرندويه ټولنه، مخ ۶۵

قبایلي سیمې د افراطیت د روزنې او پالنې په مرکزونو بدلې شوې. د مجاهدینو او بیا د طالبانو ستر مرکزونه او د وسلو زیرمتونونه هم په یادو سیمو کې وو چې بلاخره له (۲۰۰۱م) کال وروسته د تروریزم سره د جګړې په بهانه یې پوځ هم ځای پر ځای کړ.

که څه هم په فاټا کې د بریتانوي هند له واکمنۍ نافذه د ایف سي ار قانون یو غیر انساني او ظالمانه قانون وو خو د پاکستان د نظامي واکدارانو لیوالتیا قبایلي ولس ته د حقونو پر ځای د سیمې لاندې کولو ته وه.

څکه له ادغام نږدې دوه کاله وروسته هم قبایلي ولس ته لکه د نورو سیمو جمهوري حقونه نه دي ورکړل شوي او اوس هم پوځي چارواکي په هر څه حاکم دي. (۲۰۱۹م) کال کې د پښتونخوا ایالتي شورا یو قانون تصویب کړ چې د قبایلي سیمو د ځمکې لاندې معدنونه او منرالونه د حکومت ملکیت دی. د پښتونخوا ملتپاله ګوند عوامي نیشنل پارټۍ چې د پښتونخوا کې د فاټا د ادغام کلک غوښتونکې وه اوس شکایت کوي چې د قبایلي ولس سره شوې وعدې نه دي پوره شوي.

**اتم مطلب: د اغزن تار اړوند د افغان حکومت دریځ**

په وروستیو کې د پاکستان د تهاجمي سیاست پر وړاندې د توقع برعکس افغان حکومت دفاعي او پڅ دریځ خپل کړی. اغزن تار، په کرښه یو اړخیزه توګه پوستې جوړول او د قبایلي سیمو د ادغام پر مهمو موضوعاتو افغان حکومت ګونګ دریځ خپل کړی او لازم غبرګون یې نه دی ښودلی. (۲۰۱۷م) کال کې پاکستان د چمن ـ بولدک سیمه کې په کرښې پرتو لقمان او جهانګیر کلیو کې سر شمېرنه پیل کړه چې د افغان سرحدي ځواکونو له سخت غبرګون سره مخ شوه.

سره له دې چې په سیمه کې ځواکونو او هم ولس میرانه وکړه خو د میز پر سر هماغه څه ومنل شو چې پاکستان غوښتل او وروسته په یاده سیمه کې اغزن تار هم تیر کړای شو.

همدارنګه په ټولو هغو نښتو کې چې د ډیورنډ په کرښه رامنځته شوي افغان پوله ساتو ځواکونو تر خپله وسه مقاومت کړی ولې وروسته د مذاکراتو په پای کې هماغه څه منل شوي چې پاکستان غوښتل د یادولو ده چې یوازې د کندهار مخکیني قومندان شهید جنرال عبدالرازق په دې اړوند تر ټولو پریکنده دریځ درلود او د پاکستان پر وړاندې یې د مرکزي حکومت کمزوري دریځ ته په کتو په سیمه کې کلک مقاومت کاوه او د اغزن تار مخنیوی یې کاوه.

همداراز پاکستان پخوا په قبایلي سیمو کې د پراخې مداخلې څخه ډډه کوله او فکر یې کولو چې ممکن د افغانستان کلک غبرګون سره به مخ شي.

د جمعیت علمای اسلام ګوند مشر مولانا فضل الرحمان چې د قبايلي سیمو د ادغام کلک مخالف وو یوې ځانګړې ناستې کې (چې لیکوال هم موجود وو) وویل چې "ستاسې حکومت ولې دې موضوع کې غلی دی موږ. خو فکر کولو چې تاسې په دې اړه ډېر سخت او ټاکلی دریځ لرئ او ما (مولانا) د پاکستان حاکمو کړیو ته ویلي چې دا موضوع مه چیړئ ګنې د افغان حکومت د سخت غبرګون سره به مخ شئ او اړیکې به مو لازیاتې خرابې شي.[19]

ولې په وروستیو کې د افغان حکومت بې تفاوته دریځ پاکستان ډاډه کړ چې بلاخره یادې سیمې یې په مدغم کولو سره په بشپړه توګه تر ولکې لاندې راوستې.

اوسني افغان حکومت که څه هم د پاکستان د راکټې بریدونو له امله ملګرو ملتونو ته ډېر ځلي شکایت کړی ولې په اغزن تار یې په نړېواله کچه کوم د پام وړ احتجاج ونه کړ. اسناد ښايي چې د پخواني ولسمشر حامد کرزي د حکومت پر مهال د ملګرو ملتونو د هاغه مهال لوی منشي بان کي مون ته افغان حکومت د پاکستان له خوا د اغزن تار په جوړولو خپل اعتراض لیک استولی وو.

د اغزن تار غځول، د ولسونو په تګ راتګ بندیزونه او د ویزې جبري کول هاغه اقدامات دي چې د دواړو هیوادونو اړیکې به مدام ګواښوي خو که پاکستان د اغزن تار پر ځای "پرانېستې پولې" پالیسي خپله کړي نو د ډیورنډ د تاریخي شخړې سربېره د دواړو هېوادونو ترمنځ ښو اړیکو ته هیله مندي کېدای شي.[20]

**نهم مطلب: د ډیورنډ لاین تړون**

امیرعبدالرحمن خان د خپل تره شیرعلي خان له لاسه په ترکستان کې ناست و له تاشکند نه انګریزانو راوغوښت او د کابل په تخت یې کیناوه د افغانستان د بهرینو چارو اختیار انګریز د ځان سره وساته او په نورو برخو کې افغانستان د یو خپلواک حکومت په ځای یوازې په داخلي توګه یو خپلواک حکومت پاتې شو.

د انګریز او افغان دویم جنګ پای ته ورسید جنرال رابرټس له کندهاره او جنرال سټیورټ له کابل نه ووتل امیرعبدالرحمن خان داخلي امن ته پام راګرځاوه او بیا یې د روسیې سره د شمالي سرحد ټاکنه وکړه. کله چې د مغربي سرحد د ټاکلو خبره راغله نو انګریز د خپل اختیار او اثر د پراخولو لپاره د خپلې خوښې سرحد ټاکل وغوښتل. د خپل اختیار د ترلاسه کولو لپاره یې افغانستان ته د حملې اخطار ورکړ. وسلې او نورو وسپنیزو شیانو تجارت یې په افغانستان بند کړ. دا اقدامات یې د دې لپاره کول چې امیرعبدالرحمن خان د جنوبي پښتونخوا او شمالي پښتونخوا قبایلي سیمو انګریز ته په ورکولو مجبوره شي.

---

19 (هماغه) میاخیل سخي سرور میاخیل، مخ ۵۶

20 لیکوالان بیلا بیل (۱۳۹۶هـ ش) ډیورنډ فرضي کرښه مقالو ټولګه، کابل، خپرندوی اکسوس کتابپلورنځی، مخ ۸۷

عبدالرحمن خان وایسری ته خط ولیکه او ناراضي يې ښکاره کړه. هغه ولیکل سرحدي خلک زما قام او مذهب دی. داسې په زور يې له ما نه جدا کول زما حیثیت کمزوری کوي. زما کمزوري کېدل ستاسو لپاره هم ګټور نه دي. خو وایسری لارډ لنسډ د خارجه چارو وزارت معاوین هنري مارتیمر ډیورنډ په (۱۲) نومبر (۱۸۹۳م) کال کابل ته ولېږه او د عبدالرحمن خان سره يې د ډیورنډ معاهده لاسلیک کړه. دا معاهده د ډیورنډ معاهدې په نوم یادیږي.[21]

د دې تړون تر مخه چمن، پشین، بلند خېل، وزیرستان، کورمه، پاړه چیناره، افریدي، باجوړ، سوات، بونېر، دیر، چیلاس او چترال انګریز ته وسپارل شوې او د بریتانوي هند برخه وګرځېده. دا معاهده لومړۍ نه بلکې پنځمه معاهده ده.

چې د جنوبي او شمالي پښتونخوا برخه یکې په تحریري توګه له افغانستان نه بېله شوه. دومره ناکامه نتایج يې ورکړل د افغانستان او پاکستان اړیکې يې تر ننه کړکېچني وساتلې. یو قام دوه ځایه شو. چې ډیرې رواني، کلتوري، سیاسي او تخنیکي مسلې تړې راولاړې شوې. عبدالرحمن خان که د روس د حملې خطرې، داخلي بد امنۍ، خارجي چارو کې بې وسۍ، د انګریز د اقتصادي بندیزونو او د پوځي یرغل اخطارو مجبوره کړی و. نو بل خوا يې خپله پوځي او اقتصادي کمزوري هم په نظر کې وه. هغه پوهېده چې د انګریزانو سره دوو جنګونو افغانستان تباه کړی دی.

که اتلس زره انګریز فوځ یکې مړ دی نو اتیا زره افغانان هم یکې شهیدان شوي دي. کلي وران او ښارونه تباه شوي دي. هغه نه غوښتل چې خپل قام یو بل خونړي جنګ ته تېل وهي. په ډېره مجبورۍ يې په معاهده لاسلیک کړی دی. ناخوښي يې پرې دومره وه چې د معاهدې په وخت د سرحداتو د نښاندهۍ کولو نقشو باندې يې بیخي لاسلیک نه دی کړی.

او وروسته يې په قبایلي سیمو او د خېبر پښتونخوا په خاوره راولاړ شویو تحریکونو نه ښه په جار مرسته کړې ده. په هغوی کې د هډې ملا، سرتور فقیر او ملا پیوند تحریکونه د بېلګې په توګه یادولی شو.

یاده دې وي چې د دې معاهدې توثیق امیر حبیب الله خان د لارډ کرزن د نماینده سره په (۱۹۰۵م) کال په کابل کې او علي احمد د امیر امان الله خان په استازیتوب د سرحد کمشنر بلټین ګرانټ سره په (۱۹۱۹م) کال کې په پینډۍ کې کړی دی.[22]

---

[21] (هماغه) پوهنوال منګل شېرزاد، مخ ۷۶

[22] (هماغه) ډاکتر بدرالحکیم حکیم زی، مخ ۱۰۹ـ ۱۱۱

**لسم مطلب: د کرښې په اړه ګومانونه**

په (۱۹۱۹م) کال کې د انګریز امپراتورۍ وغوښتل، یوه بله هوکړه هم لاسلیک شي او په دې ډول د امیر کوچني کول بشپړ شي. له کله نه چې هغه د افغان انګلیس په دریمه جګړه کې ماته خوړلې وه، له دې پرته بله چاره نه وه، چې پر دې کرغېړنه کرښه باندې لاسلیک وکړي، چې همداسې یې وکړل. د بهرنیو چارو وزیر (کورزون) د مشرانو جرګه خبره کړه:

د افغان امیر یا دولت زمونږ ترمنځ ټولې مخکنۍ هوکړې د جګړې له امله د منځه لاړې. زه دا هر څه بې له دې چې د امیر لخوا لمسول شوی یم، وایم. ما تاسو مشران مخکې له مخکې خبر کړې وئ، چې هوکړې پر وخت تعین شوې مالي مرستې هم نورې لاړې، پاتې شوې پورونه هم ضبط شول او د ورکولو اړتیا یې نشته. هغه امتیازات چې امیر ته د سلاوو د واردولو په بدل کې ورکول کېدل، هم نور لاړل او د نه لمسول شوي بریدونو پر وړاندې د افغانستان د پولو دفاع کول هم نور زمونږ دنده نه ده.

خبره قطعي شوه. کورزون په ښکاره وایي، چې مخکنۍ ټولې پریکړې د اعتبار وړ نه دي. که داسې وي، نو د ډیورنډ کرښه هم لغوه شوې او نور د اعتبار وړ نه بلل کېږي. دی دلته نه ودرېږي، دی د (۱۸۹۳م) کال هوکړې جزیاتو ته ځي او هغه ټول مسولیتونه له اوږو غورځوي، چې له (۱۸۹۳م) کال وروسته یې پرغاړه اخیستې ول.

د نړیوالو قوانینو له مخې په دوه اړخیزه هوکړه کې جبرا بدلون نه شي راتللی. کله چې هوکړه وشوه، بیا په هغې کې د خپلې خوښې سره سم بدلون نه شو راوستلای. یو ملت کولای شي، په بشپړه توګه یوه هوکړه ومني او یا یې منلو په خاطر شرطونه کېږدي. که د بیا غور لپاره یې شرط نه وي موجود، په خپل زړه او په پټه یې خبرې اترې نشي کېدای خو دا هغه څه ول چې په دې قضیه کې ترسره شول. د ډیورنډ کرښه ځای ځای د انګریزانو له لوري اصلاح شوه لکه څنګه چې په لومړیو کې وه هغسې پاتې نه شوه، په داسې حال کې چې کله یوه هوکړه لاسلیک شي بیا پکې بدلون نه شو راوستلی په اصل کې له هماغه لومړي وخت ته د پولو په هکله د انګریزانو ادعا ناقانوني وه، خو له دې وروسته هر څه د زغملو نه وو.

د دلته د کورزون د بیانیې یوازې دوهمه برخه راخیستل کېږي خو نوموړې په لومړۍ برخه کې په څرګنده دا حقیقت بیانوي چې ټولې مخکنۍ هوکړې لغوه شوې دي.

راځئ چې د یوې شېبې لپاره د دې قضیې منطقي بحث پرېږدو او وړاندې لاړ شو. اسکویټ په (۱۸۹۸م) کال کې د پارلمان غړو ته توندې خبرې کړې وې، له هغه (۲۵) کاله وروسته د هند پخواني وایسرای (لارډ چیلمسفورډ) همداغه ډول یادښت د پارلمان غړو ته په (۱۹۲۳م) کال کې وړاندې کړ نوموړې ډېر ښه ټکي ته اشاره کړې وه: د پولو په اړه دوه احتمالي کرښې شته، چې کېدای شي په ستراتیژیکو، جغرافیایي او پوځي ډګرونو کې ترې دفاع وشي.

دا کرښې د اباسین او ډیورنډ کرښې دي. هغه ډېر څه په ځغرده وویل؛ خو نورو خبرو کولو ته هم لیواله وو. د اندوس په هکله هغه زیاته کړه:

هلته ځيني کسان شته چې وايي مونږ بايد هېڅکله د اباسين هاخوا لاړ نه شو. که مونږ له اباسينه وراخوا نه وای تللي، مونږ به ډېر انسانان او پيسې سپما کړې وې.[23]

څه چې نوموړي ووېل يو څرګند تاريخي حقيقت وو. د هغه حقايق په هغه کرښو راڅرخېدل چې طبيعتاً رامنځته شوي وي. زياته يې کړه: اوس ډيورنډ کرښې ته راځو کله چې هوکړه وشوه اميرعبدالرحمان خان  د کرښې خپل لورې ته پرتې قبلې ډېر ژر ځانته تابع کړې. مونږ هېڅ ګام اوچت نکړ که اوچت مو هم کړ، د خيبر، کرمې او بلوچستان په شان سيمو کې مو په کمه اندازه دا کار وکړ، زمونږ پولې د ډيورنډ له کرښې سره منطبقې نه دي او تر هغه ځايه نه رسيږي دا خبره قطعي وه، چې انګريزانو نه غوښتل، خپلې پولې تر ډيورنډ وغځوي. ځيني وايي چې مونږ بايد د خپلې واکمنۍ سيمې تر کرښې ورسوو څو قبلې خالي سلا کړو او تر خپل واک لاندې راولو هغه زياته کړه: خو زه فکر کوم چې د دې نظر پلويانو ته به همدا ځواب بسنه وکړي چې د (۳۰) کلونو لپاره هېڅ وايسرای په ځان کې دا ځواک نه دی ليدلی چې د دې تګ لارې سره مخالفت وکړي.

په انسانانو او پېسو کې سپما کول هغه موضوع ده، چې لږې ځيرنې ته اړتيا لري او په تېرو (۳۰) کلونو کې ولې يو وايسرای هم هوډ ونه کړ چې د داسې يوې پاليسۍ د وړاندې بوولو لپاره مخته ولاړ شي؟ له هغه وروسته د پولو دوې احتمالي کرښې دي چې په جغرافيايي لحاظ شاتنۍ کرښه اباسين دی او وړاندينۍ احتمالي کرښه د ډيورنډ هوکړې پربنسټ منځته راغلې کرښه ده. په دې کې هغه نقطې استثناء دي چې ما يې همدا اوس نومونه واخيستل او د دې دواړو کرښو ترمنځ کوم ځای کې غځېدلې ده. هېڅوک پردې راضي نه دي چې ځان دې د غرونو دې کډولې  ته ورواچوي او بې مفهومه دې خپلې پولې جوړې کړي.

بيانيې کې چلمسفورډ دا تاريخي حقيقت بيان کړی وو چې (اباسين اوهودې سکندر) د الکساندر د واکمنۍ حدود بايد د بريتانيې د سيمې وروستي حدود هم وي. دا ټوټه ځمکه ډېره پخوا د زياتې مودې لپاره په پراخ ډول د هندوستان پوله وه، کومې چې پوځي، جغرافيايي او اقتصادي ارزښت درلود. په دې دليل چې له اباسينه ور هاخوا سيمه غرونو پوښلې، هلته خلک متفاوت ول، هغوی خپل ځانګړي خواړه لرل، د هغوی کړنې او تاريخ د اباسين د بلې خوا له خلکو ډير توپير لری. د چيلمسفورډ په خبرو کې احتياط کولو ته هم نغوته شوی وه، هغه دا چې د رام کيدونکو هندوانو پر خلاف پردې قبيلو واکمنۍ کول ستونزمن کار دی په دوی کې لاسوهنه مه کوی کوم کار چې بريالیو وايسرايانو د ډېرشو کلونو په موده کې وکړ. په وروستيو کې هغه ومنله، چې په فزيکي ډول انګريزانو داسې په بشپړ ډول کنټرول نشو کړای او بايد له دې وروسته هم همداسې يو کار وشي.

---

[23] ( هماغه) راجيف ډوګرا، مخ ۲۷۳ـ ۲۷۵

د بریتانیا پارلمان هم په هماغه نظره و، کوم چې افغانانو په خپله تر دې وخته د هغه ادعا کوله: چې د ډیورنډ کرښه د پولو په هکله نه وه، بلکې یوازې د نفوذ په هکله وه.[24]

**یوولسم مطلب: د ډیورنډ کرښې په اړه اړین ټکي**

۱ـ د ډیورنډ کرښې په نوم پاکستان سره د افغانستان کوم تړون نه شته.
د ډیورنډ کرښې په نوم تړون نژدې (۱۲۸) کال مخکې امیرعبدالرحمن خان د بریتانیا تر سخت فشار لاندې له بریتانوي هند سره لاسلیک کړی. کله چې بریتانیا له هنده څخه ووتله او هند وویشل شو، د انګریزانو لخوا له جوړ شوي پاکستان سره، افغانستان د پولې یا سرحد په اړه هیڅ ډول تړون، موافقه او معاهده نه لري.

۲ ـ د ډیورنډ کرښې تړون کې دا کرښه نړیوال سرحد نه دی ګڼل شوی.
د ډیورنډ کرښې په نوم د امیرعبدالرحمن خان او د بریتانوي هند د بهرنیو چارود وزیر هنري ماتیمر ډیورنډ ترمنځ لاسلیک شوی تړون اوه مادې لري.
په دې تړون کې هیڅ ځای ډیورنډ لاین د یو دایمي پولې په توګه نه دی یاد شوی. بلکې ټولې مادې یې د هغه وخت د بریتانوي هند او امیرعبدالرحمن خان ترمنځ پردې کرښه د پرتو سیمو په تنظیم او ویش راڅرخي.
په دې اوو مادو تړون کې، یو ځل د (فرنټیر لاین) یو ځل د (باونډري) پنځه ځله د (فرنټیر) یو ځل (باونډري لاین) او یو ځل د (بارډر) ټکی کارول شوی دی، چې دا ټول تناقض او ابهام، د دې تړون په لنډ مهالتوب دلالت کوي.
بریتانوي څیړونکی هیریس په لندن کې د خپلې ډاکټرۍ په تیزیس کې لیکي:
(په واقعیت کې د یو قوم د ویشلو په هکله د ډیورنډ  د تړون یوازینی ثبوت هغه لیکه ده چې د تړون په نقشه ویستل شوې ده او امیرعبدالرحمن خان  دغه نقشه نه ده لاسلیک کړې.
ګڼ بریتانوي او افغان تاریخپوهان داسې اسناد او شواهد لري چې بریتانویانو د پاکستان تر جوړولو پورې د ډیورنډ لیکې ته د بین المللي کرښې په سترګه نه وو کتلي.)

۳ ـ افغان چارواکو له هماغه پیل راهیسې هیڅکله دا کرښه د سرحد په توګه نه ده منلې.
امیرعبدالرحمن خان په خپلو یادښتونو کې دا یوه موقته او پر زور تپل شوې کرښه بللې او هیله یې څرګنده کړې چې یو وخت به بریتانویان له هند ووځي او افغانان به خپله نیول شوې خاوره بېرته ترلاسه کړي.

[24] (هماغه) میاخیل سخي سرور، مخ ۵۷

په امیر عبدالرحمن خان پسې، امیر حبیب الله خان، امیر امان الله خان او نادرخان راغلل، چې هر ځل بریتانوي هند اړ کړي دي چې د دې تړون دوام تائید کړي، دا کار خپله د دې تړون پر موقتوالي دلالت کوي. [25]

دې درې واکمنو هم له عبدالرحمن خان را وروسته له بریتانوي هند سره د ډیورنډ د کرښې د تړون موقت دوام یو ډول تایید کړی خو هېڅ داسې سند نشته چې دوی دې دا کرښه د رسمي یا دایمي سرحد په توګه منلې وي. بلکې د هماغه عبدالرحمن خان له خوا د شوي تړون دوام ته یې غاړه ایښې ده. خو د پاکستان له جوړېدو را پدېخوا هېڅ افغان چارواکي له پاکستان سره دا کرښه د سرحد په توګه په رسمیت نه ده پېژندلې.

ان د رباني او طالبانو په څېر حکومتونه چې پاکستان پر افغانستان تپلي وو، هم دې ته چمتو نشول چې له پاکستان سره د ډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سرحد په توګه تائید کړي[26].

۴ ـ پاکستان د بریتانوي هند حقوقي ځای ناستی نه دی.

بریتانوي هند د رنجیت سینګ، شاه شجاع، امیر دوست محمد خان، امیر محمد یعقوب خان، امیرعبدالرحمان خان، امیر حبیب الله خان، امان الله خان او محمد نادر شاه سره حقوقي او سیاسي راشه درشه ساتلې وه، نه د پاکستان سره. ځکه هغه مهال پاکستان هېڅ (حقوقي، سیاسي، تاریخي، کلتوري) وجود نه درلود. پاکستان چې هېڅ موجود نه وو، څنګه به ورڅخه د ښکېلاکګرې بریتانیې وارث جوړشي؟

کله چې په (۱۹۴۷م) کال اګست کې بریتانوي هند وویشل شو او پاکستان رامنځته شو، افغانستان لومړنی او یوازینی هېواد وو چې په ملګرو ملتونو کې یې د پاکستان د غړیتوب مخالفت وکړ او د لومړي ځل لپاره د ډیورنډ کرښې اخوا د پښتنو او بلوڅو د روا حقونو ناره او خپله غوښتنه په نړیوال سټېج راپورته کړه.

په همدې وخت کې د لومړي ځل لپاره د بریتانیا د مشترک المنافع چارو وزیر نیول بیکر د دې هېواد په پارلمان کې پاکستان خپل میراث خور وباله او د ډیورنډ کرښه یې د لومړي ځل لپاره بین المللي سرحد یاد کړ.

۵ ـ له ډیورنډ کرښې پورې غاړه پښتنو د پاکستان جوړېدل او دا کرښه نه ده منلې د ډیورنډ د (۲۶۴۰) کیلو متره اوږدې کرښې پورې غاړه پښتنو د ډیورنډ د کرښې په خلاف د هماغه پیل راهیسې وسله وال پاڅونونه پیل کړي وو، د انګریزانو چاونۍ یې وسوزولې.

کله چې پاکستان جوړ شو د باچا خان په مشرۍ د کوزو پښتنو په میلیونونو کسانو مظاهرې او اعتراضونه وکړل او د ډیورنډ کرښې له منځه وړلو نارې یې پورته کړې، چې د پاکستان د ځپوونکو اقداماتو او د افغانستان د ورانونکې جګړې سربېره تر ننه هم په کوزه پښتونخوا کې د دې کرښې خلاف احساسات پر ځای پاتې دي.

---

[25] خلیلي ذاهد (۱۳۹۸هـ ش) د افغانستان او پاکستان اړیکي، جلال اباد، مومند خپرندویه ټولنه، مخ ۶۹

[26] (هماغه) محمد آقا شېرزاد، مخ ۷۷ـ ۷۹

۶ ـ ظاهرشاه د ډیورنډ کرښې د له منځه وړلو درې مهم فرصتونه له لاسه ورکړي.

لمړی: په ( ۱۹۴۷م) کال کې چې د پاکستان په نوم یو نوی هېواد جوړ شو، نو له قبایلي سیمو انګریزان ووتل. د بریتانیا هند ټولې چاونۍ، ودانۍ پاکستان ته پاتې شوې او په دې توګه پاکستان ځان د برتانیا او افغانستان ترمنځ د حقوقي تړونونو میراث خور وباله په کابل کې د بریتانیا د سفارت ودانۍ هماغه وخت د پاکستان لاس ته ورغله.

تاریخ پوهان په دې باور دي چې هغه وخت د افغانستان د پاچا محمد ظاهر شاه لپاره یو ښه چانس وو چې پر خپلې سیمې یې دعوه کړې وی.

خو د ظاهر شاه حکومت د ناڅرګندو دلایلو له کبله یوازې په بیانونو کې دا دعوه توده وساتله او د خپلې خاورې د نیولو لپاره د پیاوړې پوځ په لرلو سربېره هم عملي ګام پورته نکړ.

د هغه وخت د حکومت چارواکي د دې فرصت بایللو په اړه بېلابېل دلایل بیانوي خو یو هم په سمه توګه نشي توجیه کېدلی[27].

دویم: غوره فرصت چې په کې افغانستان پر خپلې خاورې دعوه کولی شوله، په (۱۹۶۵م) کال کې هغه مهال چې پاکستان په خپل ټول پوځي توان هند سره په جنګ اخته وو، افغانستان په یو پراخ پوځي برید کې دا سیمې نیولی شوې خو افغان حکومت نه یوازې د خپلې پلرنی خاورې د بېرته ترلاسه کولو لپاره پوځي اقدام ونه کړ بلکې د هندوستان پر ځینو بمباریو یې چې د پېښور پرهوايي ډګر شوې وې د افغانستان لخوا اعتراض وکړ.

دریم: د افغانستان لپاره د ډیورنډ لاین د له منځه وړلو دریم ښه فرصت په (۱۹۷۱م) کال کې هغه مهال وو چې د پاکستان زیات پوځ په بنګال او وروسته په هند کې بند شو، بنګله دیش ازادي واخېسته، خو افغانستان د محکومو پښتنو د ازادۍ لپاره په دې سم وخت کې غوڅ اقدام ونه کړ[28].

۷ ـ اسلامي بنسټ پالو ډلو په سیمه کې د ډیورنډ کرښې پرضد ولسي داعیه وځپله.

په افغانستان کې د ظاهر شاه او ورپسې سردار محمد داود په واکمنۍ او تر هغې راوروسته موده کې په افغانستان کې او له پولې اخوا په کوزه پښتونخوا کې اسلامي بنسټ پالې ډلې تل د پاکستان د پوځ تر مستقیم اغېز لاندې وې او ځینې یې پاکستاني او بریتانوي استخباراتي ادارو د ډیورنډ لاین پرضد د ولسي احساساتو د کمزورې کولو لپاره رامنځ ته کړې.

د پاکستان او افغانستان یو شمېر بنسټپالو اسلامي ډلو د افغانستان د ملي ارزښتونو د کمزورې کولو لپاره پرله پسې هڅې وکړې او موخه یې دا وه چې په لر او بر پښتنو کې د ډیورنډ کرښې پرضد شته کرکه راکمه کړي.

په افغانستان کې اسلامي جهادي تنظیمونو د پاکستان د پوځ او مذهبي ډلو سره یو ځای په مستقیم او غیرې مستقیم ډول کوښښ وکړ چې دواړو خواوو ته د ډیورنډ کرښې نه منونکې ملي خوځښتونه وځپي چې دا چاره تر اوسه هم دوام لري.

---

[27] (هماغه) پوهنوال منګل شېرزاد، مخ ۷۰

[28] (هماغه) خلیلي ذاهد، مخ ۵۰

په تېرو درې لسيزو کې د شوروي يرغل او د افغانستان له جهاد څخه د پاکستان استفاده او ورپسې د ډيورنډ کرښې دواړو غاړو ته د طالبانو راپورته کول د دې لامل شول چې په سيمه کې ناخوالې دومره زياتې شي چې خلک د ډيورنډ کرښې پرضد کرکه هېره کړي.

۸ ـ پاکستان له هر افغان حکومت څخه د ډيورنډ کرښې د منلو غوښتنه کړې.
د پاکستان له رامنځته کېدو راوروسته پاکستان پرله پسې له بېلابېلو لارو د وخت پر افغان حکومتونو فشار راوړی چې د ډيورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د رسمي کرښې په توګه تائيد کړي. دوی د ظاهر شاه او داود خان د واکمنيو پرضد د حزب اسلامي د هغه وخت غړي لکه حکمتيار، مسعود او نورو لا د نورمحمد تره کې له واکمنۍ مخکې بريدونو او وسلوال مخالفت ته هڅول او دوی ته يې وسلې ورکولې.
دې ډلو لا هماغه مهال په افغانستان کې د ښوونځيو سوزول او د پلونو نړول پيل کړي وو.
کله چې په افغانستان کې په (۱۳۵۷هـ ش) کال کې نظامي بريالی پاځون وشو او د افغانستان د خلکو دموکراتيک ګوند ته واک په لاس ورغی، نو پاکستان ته لا ښه پلمه جوړه شوه او د مجاهدينو ترشا د همدې لپاره ودرېد څو د افغانستان مرکزي حکومتونه کمزوري کړي او دا کرښه پرې ومني.[29]
اسناد ښيي چې پاکستان په تېرو درې لسيزو کې د ډاکتر نجيب الله، رباني، طالبانو او حامد کرزي له حکومتونو وخت پر وخت د رسمي سرحد په توګه د دې کرښې د منلو غوښتنه کړې، خو دې نظامونو که غوښتل يا نه غوښتل د دې کرښې د تائيد توان يې نه درلود. پخواني ولسمشر حامد کرزي وخت په وخت دا خبره په ډاګه کړې چې پاکستان ورڅخه په رسمي غونډو کې د طالبانو له ملاتړ څخه د لاس اخيستو په بدل کې په څرګنده د ډيورنډ کرښې د منلو او له هندوستان سره د اړيکو د پرې کولو غوښتنه کړې چې نوموړی وايي نه يې ده منلې. د اشرف غني په مشرۍ حکومت هم په دې اړه د پاکستان له جدي غوښتنې سره مخ وو.

۹ـ د امريکا او بريتانيا په ګډون يو شمېر هيوادونه ډيورنډ د افغانستان او پاکستان ترمنځ رسمي پوله ګڼي خو زيات شمېر هېوادونه يې نه مني.
د امريکا، بريتانيا او سعودي عربستان په شمول ځينې هيوادونه د ډيورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ رسمي سرحد بولي.
خو د دې کرښې لانجمن وضيعت هېڅ هېواد نه ردوي. له همدې کبله خو د ملګرو ملتونو په ګډون نړيواله ټولنه تل د دواړو لورو ترمنځ په دې اړه يوې وروستۍ پريکړې ته د رسېدو لپاره د خبرو اترو او جوړجاړي غوښتنه کوي.
همدارنګه د هندوستان په څېر يوه ډله هېوادونه داسې هم دي چې ډيورنډ لاين ته لکه د افغانانو په څېر د يوې تپلې شوې نامنل شوې کرښې په سترګه ګوري او هېڅکله يې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پولې په توګه نه مني.

[29] (هماغه) شيرزاد محمد آقا، مخ ۸۱

۱۰ ـ حکومتونه په یوازې سره د ډیورنډ کرښې په اړه پرېکړه نشي کولی.
د ډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان د حکومتونو څخه ډېره د پښتنو د ستر ولس مسئله ده، چې د دې کرښې په اوږدو کې تر شپیتو میلیونو څخه په زیات شمېر کې پراته دي او دې کرښې دا ستر ولس په دوو برخو داسې ویشلی چې د یوې کورنۍ غړي یې سره بېل کړي.
د دې کرښې د منلو او یا نه منلو په اړه هره پریکړه هم په همدې پراخو پرګنو یا د دوی په منتخبو استازو پورې تړلې ده.[30]
په افغانستان کې یو شمېر پردي پاله وطن پلورونکې ځېرې چې د ملي یووالي پر ځای بېلوالي ته لیوال دي د کرښې د منلو یو شمیر غیر معقول دلایل پېښ او پنا وایي، خو افغان حکومت، پاکستاني پوځ او نور لوري د دې پولې د منلو یا تائید واک نه لري.
د نړیوالو حقونو له مخې په سیمه کې یوه پراخه، بې پرې او عادلانه ټول پوښتنه کولی شي د ایستل شوې کرښې برخلیک وټاکي، د کومې ټولپوښتنې له پاره چې اوس شرایط او اراده نشته.
له دې پرته که ولسونه په دې اړه پریکړو کې شامل نه وي، د حکومتونو ترمنځ هر ډول فیصلې به بیا هم لکه د عبدالرحمن خان او بریتانوي هند ترمنځ تړونونو ته ورته وي، چې کاغذ کې به وي خو ولسونه به یې هېڅکله هم ونه مني چې پر وجود یې دا کرښه کښل شوې ده.
همدارنګه د افغانستان د نورو وروڼو قومونو اخلاقي مسولیت دا دی چې د دې کرښې پرضد د پښتنو د داعیې ملاتړ وکړي، تر دې پرته د دوی له خوا د دې کرښې منل یا نه منل د ستونزې هوارې سره کومه مرسته نشي کولی او د دوی لپاره هم کومه ګټه نه لري.

۱۱ ـ آیا د ډیورنډ کرښې د معضلې حل شته؟
ولې نه. لکه مخکې مو چې وویل که په سیمه کې داسې شرایط رامنځ ته شي چې د کرښې دواړه غاړې میشت پښتانه ولسونه چې اوس ویشل شوي، په ازاده توګه خپله اراده ځرګنده کړي او د هغوی ارادې ته درنښت وشي او پریکړه یې تضمین شي، د دې کرښې په اړه یوې دایمي حل ته لاره هوارېږي. البته افغان حکومت د کوزو او برو پښتونو د یوې لویې جرګې په ترڅ کې د دې کرښې په اړه بحث او خبرې پیلولی شي چې ښایي اوږد وخت ونیسي څو پریکړې ته ورسېږي.
همدارنګه د افغانستان او پاکستان حکومتونه کولی شي پر کرښې د کړکیچ د راکمولو له پاره پر ځینو لنډ مهالو حل لارو غور وکړي، څو د ملي ستړې ستونزې یو دایمي حل ته لاره پیدا شي. دې کې هېڅ شک نشته چې د دې کرښې پر سر راپورته شوي کړکیچ د کرښې دواړو غاړو ته پښتانه ناارامه کړي، او دا سمه نه ده چې په اړه دې هېڅ ډول خبرې نه کېږي.
خبرې کېدای شي خو دا خبرې باید د دواړو لورو د حکومتونو په صلاحیتونو پورې محدودې وي او د کرښې په اوږدو کې د پرتو ولسونو خوښه او خیر ښېګڼه باید په کې شامله وي.
د حقوقو د پوهنتون استاد ودیر صافی تل وایي دا کرښه په حقوقي لحاظ کوم رسمیت نه لري.

[30] (هماغه) خلیلي ذاهد، مخ ۶۸

حامد کرزی د افغانستان مخکني جمهور رئیس په وار وار په رسمي غونډو کې ویلي چې دا کرښه د منلو نه ده او زه یې نه منم. له ما پاکستان درې ځلې غوښتي چې د دې کرښې رسمیت ومنم هېڅکله دا کار نه کوم او نه یې واک لرم. خو د پدرام او یو څو نورو وطن پلورونکو کسانو پر خلاف، عبدالغفور لیوال سیاسي څېړونکي وایي د ډیورنډ کرغېړنه کرښه هېڅکله د منلو نه ده او نه په دې هکله کوم رسمي سند نشته. [31]

### دولسم مطلب: د افغانستان او پاکستان حکومتونو ترمنځ پر کرښه نښتې

د (۱۹۶۰م) کال د اګست په (۱۳مه) دوه پاکستانۍ الوتکې د افغانستان هوایي حریم ته ننوتې چې افغامستان په کندهار کې کېنولې. افغانستان په پاکستان تور ولګوه چې پاکستان یې له دوه میاشتو په پرلپسې ډول د هوایي حریم سرغړونه کړې. افغانستان په یو بیان کې وویل چې پاکستان یې شاوخوا دېرش ځله هوایي حریم سرغړونه کړې. خو پاکستان وویل چې کندهار کې یې دوه کېنول شوې الوتکې د چلونې د ستونزې له امله دي او تصادفي وې (افغان هوایي حریم ته تصادفي داخلې شوي). پاکستان په پېښه خواشیني وښوده. له یوې میاشتې وروسته افغانستان دوه پاکستانۍ الوتکې او عمله یې بېرته پاکستان ته وسپارل.

د (۱۹۶۰م) کال په وروستیو کې ډیورنډ کرښې ته نږدې د باجوړ او دیر ایالت د قبایلي مشرانو ترمنځ لانجه وه. دا لانجه هغه مهال نوره هم سخته شوه چې ځینو افغانانو د جندول خان ( د دیر د نواب) او د هغه د زوی ملاتړ ته ور ودانګل. پاکستان په باجوړ کې د دوی د مخالف خار خان مرسته وکړه. دواړه هېوادونو خپل ځواکونه سیمې ته واستول، خو هېڅکله هم سره مخامخ نه شول. د خار خان ځواکونه په دغه لانجه کې بریالي شول. پاکستان له وضیعته ګټه پورته کړه او د دې فرصت یې ترلاسه کړ چې د دیر سیمه، چې د پاکستان تر ولکې لاندې نه وه، په بشپړ ډول تر ولکې لاندې راولي.[32]

له دغې لانجې (شخړې) وړاندې د دیر ځمکوال واکمن په پاکستان کې د خپل ایالت د یو ځای کېدو مخالفت کړی و. د دیر نواب د پاکستان د (۱۹۵۶م) کال د اساسي قانون تر چتر لاندې د پاکستان پارلمان ته د خپل استازي د لېږل هم رد کړي وو. د (۱۹۶۰م) کال په سپتمبر کې پاکستان د دیر نواب له ایالته لرې کړ.

افغان حکومت د دیر د نواب ملاتړ وکړ. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر منظور قادر وویل چې افغان ځواکونه د ټانګونو په ملتیا د باجوړ ختیځ ته رسیدلي دي. منظور قادر زیاته کړه چې د افغان قبایلي لښکر ځینې ځواکونه باجوړ ته ننوتي. د پاکستان حکومت وویل چې افغان لښکر پاکستان ته وفاداره قبایلو سره شخړه وکړه او بیا افغانستان ته لاړل. قادر دا هم وویل چې افغان لښکر ته دروند زیان اوښتی.

---

[31] (هماغه) راجیف ډوګرا، مخ ۸۲ ـ ۸۳
[32] (هماغه) خلیلي ذاهد، مخ ۳۰

خو د (۱۹۶۰م) کال د سپتمبر په (۲۹مه) د کابل راډیو د پاکستان د بهرنیو چارو د وزیر ادعاوې رد کړې. کابل راډیو وویل چې له دغو خبرو د پاکستان موخه د سیمې له وضیعته د خلکو پام اړول دي. کابل وویل چې د پاکستان د بهرنیو چارو د وزیر موخه له هغه واقیعته د خلکو مخ اړول دي چې پاکستاني ځواکونه سیمې ته د خلکو د غوښتنې پرضد استول شوي.

د (۱۹۶۰م) کال د اکتوبر په (۵ مه) د پاکستان حکومت د افغانستان حکومت ته احتجاج وکړ. پاکستان د (۱۹۶۰م) کال د سپتمبر په (۲۳ ـ ۲۴) باجوړ ته د افغان لښکر د ننوتو په اړه هم خپل اعتراض ثبت کړ.[33]

**دیارلسم مطلب: د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پولې لانجه او د امریکا دریځ**

د (۱۹۵۱م) کال په مارچ کې د جنوبي آسیا لپاره د امریکا متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت مرستیال جورج مکګي کابل ته راغی او په کابل کې یې د افغانستان دفاع له وزیر محمد داود خان سره د نظامي مرستو او د پښتونستان مسلې په اړه خبرې وکړې، مګر د ستونزې د حل لپاره یوه آسانه لاره نه تر سترګو کېده، مکګي ویرېده چې د ملګرو ملتونو ته د افغانستان او پاکستان ترمنځ د شخړې وړاندې کول به د شوروي لاسوهنې ته زمینه برابره کړي. مکګي دا په ډاګه کړه، چې پښتونستان او نورو ټولو ستونزو ته باید د شوروي اتحاد د پراختیا غوښتونکو پالسیو په رڼا کې وکتل شي. د کومو له مخې چې شوروي غواړي څو په اروپا او اسیا کې د ځواک او قدرت له تشې نه ګټه پورته کړي، همدارنګه نوموړی د افغانستان او پاکستان ترمنځ د دوه اړخیزو خبرو د ارزښت په اړه شکمن و.

په سیمه کې د امریکا د متحدو ایالاتونو د شتون زیاتیدو پخوانی شوروي اتحاد چې له افغانستان سره یې اوږدې تاریخي اړیکې لرلې او دغه هیواد یې د خپلې اغېزې په ساحه کې شامل ګاڼه اړ کړ، څو په افغانستان کې د خپلو ګټو او اغېز په اړه بیا له سره کتنه وکړي. له همدې امله نیکتیا خروچف وویل چې امریکایان له افغانستان سره د اړیکو د نږدې کېدو په هڅه کې دي، امریکایان په افغانستان کې له بېلا بېلو پروژو سره مرسته کوي، هغه پانګونه چې موږ په افغانستان کې کړې باید ضایع نه شي، موږ د افغانانو باور ترلاسه کړی او باید دغه باور د امریکا په وسیله لمنځه ولاړ نه شي.

د کوریا تر جګړې وروسته د امریکا اندیښنې لاپسې زیاتې شوې او په اسیا کې د شوروي لخوا په نورو د تېري په اړه پراخه ویره منځته راغلې وه، د امریکا متحده ایالتونو له دواړو هیوادونو وغوښتل، څو د پښتونستان مسله حل کړي، د امریکا د متحده ایالاتونو وړاندیز دا وو، څو کابل او کراچۍ دواړه د یو بل پر وړاندې د پروپاګنډې مخه ونیسي، د خبرو او دیپلوماسی له لارې خپلې ستونزې هوارې کړي، مګر افغانستان مناسب دریځ نه درلود، د امریکا متده ایالتونو د پښتونستان په تړاو د افغانستان د دریځ په اړه کوم قانوني دلیل نه لیده،

[33] (هماغه) شیرزاد محمد آقا، مخ ۳۱

همدا اصلي دليل و چې له مخې يې افغانستان ونشو کولای څو د امريکا له متحدو ايالتونو نه وسلې ترلاسه کړي.[34]

د دې ترڅنګ د امريکا له لوري افغانستان ته د نظامي مرستو نه ورکولو بل دليل د افغان حکومت کمزوري وه، د امريکا بهرنيو چارو وزارت افغانستان ته په نغدو پيسو د وسلو پلورلو وړانديز وکړ، افغانستان دغه وړانديز له سياسي پلوه د خپلې غوښتنې د رديدلو په معنی وګانه. واشنګټن د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سختو اختلافونو د شتون له امله په انديښنه کې و، په (۱۹۵۲م) کال کې د امريکا متحدو ايالتونو زياتې هڅې وکړې، څو د دواړو لورو ترمنځ د خبرو له لارې ستونزه هواره کړي مګر افغانستان نه غوښتل څو له پاکستان سره په خپلو اړيکو کې ښه والی راولي.[35]

واشنګټن په مسکو کې د خپل سفارت په غوښتنه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پولې پر سر د شخړې حل کولو نه لاس واخيست. شوروي اتحاد له موجوده حالات نه خوښ نه ښکارېده، د امريکا لپاره دا مناسبه نه وه څو د داسې يو هيواد لپاره چې د شوروي اتحاد موخې په اسانۍ سره پلي کيدای شوې يوه اغېزمنه پاليسي رامنځته کړي. په (۱۹۵۲م) کال کې د واشنګټن افغانستان او پاکستان دواړه د پښتونستان لانجې د نه حل له امله د خپلې بهرنۍ پاليسۍ له اجنډا نه وويستل.

د دې ترڅنګ يې د دواړو هېوادونو لپاره خپلې اقتصادي مرستې هم ودرولې، مګر شوروي اتحاد په افغانستان کې د خپلې اغيزې د پراختيا لپاره خپلې هڅې پيل کړې، شوروي د افغانستان سره د تيلو د استخراج په برخه کې همکاري پيل کړه.

افغان حکومت د نويو سړکونو لپاره يو پلان جوړ کړ، د دې پروژې د پلي کولو په موخه افغان حکومت له امريکا نه د يو ميليون امريکايي ډالرو اقتصادي مرستې غوښتنه وکړه مګر د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د افغان لوري غوښتنې ته ځانګړې پاملرنه ونه کړه، له امريکا نه تر مايوسه کيدو وروسته افغان حکومت خپل مخ شوروي اتحاد ته واړوو، دا هغه څه و چې شوروي يې لا وړاندې انتظار کاوه.

شته اسناد او ثبوتونه دا څرګندوي چې واشنګټن د شوروي اتحاد ښکيلتيا جدي نه وه ګڼلې او له افغانستان نه يې يوازې اخلاقي ملاتړ ښودلی و، امريکا دا خطر درک کړی نه و، چې افغانستان به د شوروي په وسيله سقوط کوي.

---

[34] (هماغه) ډوګرا راجيف، مخ ۴۵

[35] مسرت جبين، ډاکټر محمد سليم مظهر، ناهيد اس ګوريا (۱۳۹۲هـ ش) د افغانستان او امريکا متحدو ايالتونو اړيکې د سپټمبر ۱۱ مې پېښو ته يوه تاريخي کتنه، ژباړن: څېړنيار محمد سرور احمدزی جلال اباد، مومند خپرندويه ټولنه، مخ ۱۴ ـ ۱۶

## دویم فصل

## د ډیورنډ تړون حقوقي ارزونه

### لومړی مبحث: د ډیورنډ تړون د حقوقي اړخ لنډ تاریخ

د نړۍ نقشې په مخ د افغانستان د اوسنیو پولو له تثبیت څخه څه باندې یوه پیړۍ تیریږي. د افغانستان د پولو په ټاکنه کې د روسانو او انګریزانو استعماري غرضونو په کافي اندازه ځای درلود. که د ډیورنډ کرښه په (۱۸۹۳م) کال کې د افغانستان د نورو پولو سره پرتله کړو، نو دغه تریخ واقعیت په ډاګه څرګندیږي، چې د کرښې په غزولو کې هیڅ: بشري، جغرافیایي او حقوقي ملاحظات په نظر کې نه دي نیول شوي.

هره څومره چې د ډیورنډ د موافقه لیک له نیټې څخه لرې کیږو په همغه اندازه، د مسلې سیاسي او ډیپلوماتیک اړخ، د افغانستان په ګټه پیاوړی کیږي او ورسره د افغاني واکمنانو له خوا د ډیورنډ کرښې په خلاف د احتجاج او اعتراض سیاسي ظرفیت او امکانات زیاتیږي. د ډیورنډ موافقه لیک څخه (۱۲۸) کاله تیریږي. پدغه موده کې د افغانستان د (۲۰) حکومتونو له جملې څخه (۴) لومړنیو حکومتونو، د باندني ګواښ او فشار لاندې د ډیورنډ کرښه منلې وه او (۱۶) نورو حکومتونو د هغې په وړاندې په رسمي یا غیر رسمي توګه اعتراض او احتجاج ښودلی دی. د ډیورنډ قضیې د افغانستان په بهرني سیاست کې ډیر کله غوره ځای لرلی دی.

د دې ټولو سره سره، انګریزانو د نړیوالو حقوقي تعاملاتو په خلاف، د افغانستان خپلواکي د افغاني چارواکو له خوا د ډیورنډ کرښې د منلو پورې وتړله. د (۱۹۲۱م) کال د کابل موافقه لیک، چې د بریتانوي هند او اماني حکومتونو ترمنځ لاسلیک شو، په (۲) ماده کې راغلي دي: ( دواړه خواوې د هند او افغان پولې په هغه شان، چې د راولپنډۍ د (۱۹۱۹م) کال د اګست (۸) نیټې موافقه لیک په (۵) ماده کې څرګند شوي وو، مني.)

په هند کې د انګریزي حکومت د نسکوریدو وروسته او د پاکستان د جوړیدو د مخه، د پښتنو په سیمه کې، رامنځته شوې وضعې د ډیورنډ تړون د فسخ کولو غوښتنه کوله، وضع دا ډول وه[36]:

- په پښتونخوا کې د خان عبدالغفار خان په مشرۍ، د انګریزانو څخه د پښتنو د آزادۍ غوښتنې غورځنګ خپل اوج ته رسیدلې و.

[36] (هماغه) ډوګرا راجیف، مخ ۶۳

ـ په ( بنو) کې لویه جرګه جوړه شوه او د پښتونخوآ مستقل دولت د جوړېدو پریکړه یې وکړه.

ـ د پښتنو قومي جرګو استازو د کابل حکومت څخه د ډیورنډ موافقه لیک د لغوه کولو جدي غوښتنه کوله.

همدغه وضعه د دې باعث شوه، چې د لومړي وزیر شاه محمود خان حکومت د ډیورنډ تړون په یو اړخیزه توګه باطل اعلان کړي. د شاه محمود خان حکومت د (۱۹۴۷م) کال د جولای په (۳۱) نیټه، خپل دریځ د بریتانیې بهرنیو چارو وزیر ته، د یوې اعلامیې په ترڅ کې وړاندې کړ. د افغاني حکومت نوموړی دریځ د نړیوالو حقوقي موازینو سره بشپړ سمون درلود.

(هر دولت حق لري په خپله خپلې ګټې وټاکي او ساتنه یې وکړي. یو دولت کولای شي په خپل مسوولیت سره، په یو اړخیزه توګه بل لوري ته د یو یادښت په استولو سره، هغه تړون ملغا اعلان کړي، چې ورڅخه زیانمن کیږي.)

په (۱۹۴۷م) کال کې د پاکستان رامنځته کیدو وروسته، د پاکستان د دولت مشر محمد علي جناح او د افغانستان د استازي نجیب الله تور وایانا ترمنځ په کراچۍ کې یو تړون لاسلیک شو، په نوموړي موافقه لیک کې د آزادو قبایلو سیمه له صوبه سرحد او بلوچستان څخه جلا وګڼل شوه. د علي جناح د مړینې وروسته، خواجه نظام الدین د پاکستان نوی دولت مشر د مخکنۍ موافقې څخه څرګنده سرغړونه وکړه.

د افغاني حکومتونو سربېره، د (۷) دورې ملي شورا هم خپل دریځ، د (۱۹۴۹م) کال په جولای کې په څرګنده توګه د ډیورنډ تړون په خلاف، اعلان کړ[37].

**لومړی مطلب: د نړیوالو حقوقو په رڼا کې د ډیورنډ تړون ارزونه**

تر هر څه د مخه ښایې یادونه وکړو، چې افغانستان هېڅکله هم د بریتانیا مستعمره هیواد (colonie) نه و، بلکې تحت الحمایه هیواد (protectorat ) و. په همدې بنسټ، د ډیورنډ تړون حقوقي باور هغه وخت په درسته توګه ارزولی شو، چې:

- له یوې خوا، د نړیوالو تړونونو د لاسلیک کولو عمومي پروسیجر (طرزالعمل) په نظر کې ونیسو.

- او له بلې خوا، د بین المللي تړونو د اعتبار حقوقي معیارونه (اصول) په پام کې وساتو.

---

[37] (هماغه) شیرزاد محمد آقا، مخ ۹۴ ـ ۱۰۴

دغه دواړه: حقوقي پروسيجر او حقوقي معيارونه موږ ته د ډيورنډ تړون د حقوقي ارزونې ښه وسيله په لاس راکوي.

د دولتونو ترمنځ د تړونو د لاسليک عمومي پرو سيجر:

۱- د دولتونو ترمنځ تړون د دواړو هيوادونو د صلاحيت لرونکو استازو له خوا لاسليک کيږي. د هر هيواد د اساسي قانون له خوا د خپل دولت استازي ته دغه واک ورکول کيږي. نړيوال حقوق پوهان پدې باور دي، چې د اساسي قوانينو ضوابط په بين المللي حقوقي نظام کې بشپړ نفوذ لري، آن تر دې چې د يو هيواد د اساسي قانون د حکمونو، نه مراعات د تړون د باطل کيدو لامل ګرځيدی شي.

اوس راځو دې ته، چې آيا د ډيورنډ تړون په لاسليک کولو کې د دولتونو ترمنځ د دا ډول تړونونو د حقوقي طرزالعمل دا شرط په ځای شوی دی که نه؟

الف ـ د ډيورنډ تړون د بريتانوي هند د بانديني چارو وزير (ډيورنډ) او د افغانستان امير (عبدالرحمان) ترمنځ لاسليک شوی دی.

اميرعبدالرحمان مطلقه پادشاه و او اصلاً د اساسي قانون سره آشنا نه و. لدې کبله هغه د کوم اساسي قانون د حکمونو له مخې، د افغانستان د خلکو استازيتوب او د تړون د لاسليک صلاحيت نه درلود.[38]

ب ـ دغه مطلقيت د افغانستان په د ننه کې مطرح و. د هيواد بهرنی سياست د انګريزانو تر کنترول لاندی و. له همدې کبله د ډيورنډ تړون په پروسيجر کې د امير حقوقي او سياسي باور د انګلستان د هند مستعمره هيواد د يو وزير يعنې ډيورنډ سره په يوه کچه کې واقع و. لدې کبله د ډيورنډ تړون د نړيوال حقوقي پروسيجر له مخې، د دولتونو ترمنځ کوم تړون نه شي ګڼل کيدلی.

۲ـ د دولتونو ترمنځ تړون بايد د خلکو د استازو له خوآ په پارلمان کی تصويب شي.

له يوې خوا، داسې کوم سند، چې د ډيورنډ تړون د انګلستان د عوامو مجلس له خوآ تصويب شوی وي، په لاس کې نه شته، د بلې خوا، په افغانستان کې هغه وخت پارلمان موجود نه و، په داسې صورت کې چې د موافقه ليک د نيټې څخه د مخه، لږ تر لږه د يوې نيمې پيړۍ راپدې خوا، لويه جرګه موجوده وه. د تحت الحمايه افغانستان امير جرئت ونه کړ، چې د ډيورنډ تړون موضوع لويې جرګې ته وړاندې کړي، لدې ويرې، چې د استازو له هرو مرو مخالفت او مقابلې سره مخامخ کيږي.

---

38(هماغه) ډوګرا راجيف، مخ ۷۵

پدې ډول، د ډیورنډ تړون د لاسلیک بهیر، د یو حقوقي منل شوي تړون د عمومي پروسیجر د دویم شرط سره هم برابر نه دی.

۳ـ تړون باید د هیواد د عالي ترین مقام یعني د دولت رئیس له خوا ومنل شي. دا یواځینی شرط دی، چې په پدې تړون کې په ځای شوی و.

۴ـ تړون باید د هیواد په رسمي جریده کې خپور شي. دغه تجویز د تړون د انفاذ معنی ورکوي. هغه وخت افغانستان منظم دولتي نظام نه درلود. پدې بنسټ، دغه کار هم ترسره نه شو، عام ولس د تړون له محتویاتو څخه بې خبره پاتې شو. اوس تاریخ پوهان پدې برخه کې، چې آیا امیرعبدالرحمان د تړون انګلیسي او دري دواړه متنونه او ورسره مل نقشه ټول لاسلیک کړي دي که نه، هم نظره نه دي. ځینې څیړونکي نظر څرګندوي، چې ګنې امیرعبدالرحمان د موافقه لیک د دري متن سره مل نقشه باندې لاسلیک نه دی کړی او د موافقه لیک په متن کې د دواړو هیوادونو ترمنځ د پولې کلمه هم نه ده ذکر شوې.

پدې ډول، د ډیورنډ تړون په لاسلیک کولو کې د دولتونو ترمنځ د تړون تړلو څلورم شرط هم نه دی په ځای شوی[39].

۵ـ د دولتونو ترمنځ تړون باید د دواړو دولتونو له خوا د نړیوالو سازمانونو (چې وروسته جوړ شول لکه جامعه ملل یا ملګرو ملتونو) د تړونونو په آرشیف کې ثبت شي. د ډیورنډ تړون په برخه کې دغه عملیه هم نه ده ترسره شوې.

پدې توګه، د دولتونو ترمنځ د یو اعتبار وړ بین المللي تړون د طرزالعمل د پنځو شکلي شرطونو څخه، د ډیورنډ موافقه لیک په بهیر کې، یواځې یو فرعي شرط په ځای شوی دی او څلور نور بنسټیز شرطونه نه دي په ځای شوي.

په دې ځای کې ښایي یادونه وکړو، چې د یو مستعمره هیواد کورنۍ او بهرنۍ اداره مخامخ د ښکیلاکګر دولت په لاس کې وي، په داسې حال کې، چې یو تحت الحمایه هیواد خپلې کورنۍ چارې په خپله اداره کوي، اما بهرني امنیتي چارې او د بهرني سیاست واګې یې د استعماري دولت له خوا اعمال کیږي.

لدې څخه څرګندیږي، چې د ډیورنډ تړون د دواړو خواوو: د بریتانوي هند او د تحت الحمایه افغانستان د بهرني سیاست واک د انګریزي حکومت په لاس کې و. لدې کبله د دوو مستقلو دولتونو ترمنځ د تړون هیڅ ډول حیثیت نه لري.

---

[39] (هماغه) پوهنوال منګل شېرزاد، مخ ۶۷

د یو بین المللي تړون اعتبار یواځې د حقوقي شکلیاتو رعایت سره نه دی تړلی. د دې اعتبار له پاره نورمعیارونه (اصول) هم ورسره مل وي، چې په لاندې ډول ورته اشاره کیږي.

**دویم مطلب: د نړیوالو تړونونو د حقوقي اعتبار بنسټیزو اصولو سره د ډیورنډ تړون مقایسه**

د دولتونو ترمنځ یو تړون د نورو حقوقي پدیدو په څېر، هغه وخت دوامداره حقوقي اغیز لري، چې د اعتبار وړ وي. د یو نړیوال تړون اعتبار په درې غوره اصولو ولاړ وي:

۱ـ د تړون لاسلیک کونکی باید د تړون تړلو اهلیت او صلاحیت ولري یعنې لاسلیک کوونکی باید د نړیوال حقوقي بهیرغړی وي، یواځې دولتونه او بین المللي موسسې د نړیوالو حقوقي پروسو لوبغاړي دي؛

۲- د تړون د موضوع مشروعیت د نړیوالو تړونونو د اعتبار غوره اصل دی. د دولتونو ترمنځ د تړون موضوع باید مشروع وي. غیر مشروع مسله د مثال په ډول، د ذروي وسلو صادرات د یو نړیوال تړون موضوع نه شي کېدلی[40].

۳ـ خپل ارادیت د نړیوالو تړونونو بل بنسټیز اصل دی. د تړون لاسلیک کوونکي باید په خپله اراده کې خپلواکه وي. آزاده اراده د لاسلیک کونکو د بشپړ رضایت ښکارندوی دی.

اوس د نړیوالو تړونونو د پورتنیو درې غوره اصولو په رڼا کې، د ډیورنډ موافقه لیک حقوقي اعتبار، تر څېړنې لاندې نیسو:

د اهلیت او صلاحیت اصل: د (۱۹۶۹م) کال د ویانا کنوانسیون د (۶) مادې له مخې، په نړیوالو حقوقو کې، یواځې یو خپلواک دولت او یو بین المللي اداره، د بین المللي حقوقو د متصدي په توګه د بین المللي تړون د لاسلیک کولو حق لري.

د بین المللي حقوقو ټول پوهان پدی نظر دي: ( کله چې یو هیواد تحت الحمایه (پروتکتورات) وي، یواځې حامي دولت (پروتکتور) د بین المللي تړون د انعقاد حق او صلاحیت لري.) پدې اړه تاریخي مثالونه زیات دي.

د مثال په توګه، کمبودیا په (۱۹۴۹م) کال کې د فرانسې تحت الحمایه و. په همدغه کال کې فرانسې د حامي (پروتکتور) دولت په څېر، د تایلنډ سره د کمبودیا د پولو ټاکلو په مورد یو تړون لاسلیک کړ.

---

[40] (هماغه) محمد آقا شبرزاد، مخ ۳۰

د امیرعبدالرحمان په وخت کې افغانستان د بریتانیا تحت الحمایه هیواد و. د هیواد د بهرني امنیت او باندني سیاست اداره، د انګریزانو په لاس کې وه. یوازې انګریزانو د بین المللي تړون د انعقاد حق او صلاحیت درلود. افغاني تحت الحمایه دولت د بین المللي تړون د انعقاد حق څخه بې برخې و. دغه واقعیت، چې انګریز او تزاري روس په (۱۸۷۷م) (۱۸۷۳م) او (۱۸۹۵م) کلونو کې د افغانستان د شمالي پولو په تعین کې رول درلود، دا ثابتوي چې هیواد په خپل بهرني سیاست کې د انګریزانو استعماري حکم لاندې او یو تحت الحمایه دولت و.

(د پولو په اړه د انګریزانو او روسانو له خوا یو شمېر هیاتانو، په بېلا بېلو موخو، ټاکل شوی وو. لومړی پلاوی د دواړو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو (لارد کرینویل او پرنس ګورچکوف) په کچه جوړ شوی و. په دویم پلاوی کې انګریزي استازی (چارلس پټ) او روسي استازی ( کاپیتان کامروف) وو.)

د دې ټولو واقعیتونو څخه دا جوتیږي، چې د امیرعبدالرحمان تحت الحمایه دولت د یو بین المللي تړون د لاسلیک کولو حق نه درلود[41].

د تړون د مشروعیت اصل: د (۱۹۶۹م) کال د ویانا کنوانسیون په (۵۳) ماده کې راغلي دي:

(هغه تړون، چې د انعقاد په وخت کې د بین المللي حقوقو د عمومي موازینو سره په تضاد کې قرار ولري، باطل شمېرل کیږي.)

دغه موازین په مجموعي توګه د نړیوالې ټولنې له خوا منل شوي او تر هغه وخته پورې، چې نوي حقوقي اصول د هغو ځای ناستي شوي نه وي، اعتبار لري. د ډیورنډ موافقه لیک موضوع د پولو تثبیت و. پدې اړه د تړون مشروعیت تر سوال لاندې نه راځي.

د تړون د لاسلیک کوونکو خپل ارادیت: هغه لاملونه، چې د لاس لیک کوونکو په خپلواکه اراده آغیز اچوي او د یو تړون د بطلان سبب ګرځي، د کورنیو حقوقو څخه بهرنیو حقوقو ته لار موندلې ده، دا دي: تېروتنه، دوکه، اجبار چې په لاندې ډول یې توضیح کوو.

تېروتنه: هغه ناسم تصور او خیال دی چې انسان یې د چارو او یا شیانو په اړه لري. یا په عبارت تېروتنه له حقوقي واقعیتونو څخه ناسم برداشت دی.

دوکه: د حیلې او تقلب په وسیله د بل چا د مال اخیستنې ته دوکه وایي.

اجبار: د یوه شخص لخوا د یو کار انجامول پر بل شخص باندې پرته له دې چې هغه شخص د دې کار په انجام کې قصد او اختیار ولري.

---

[41] (هماغه) خلیلي ذاهد، مخ ۸۷

نومونړي سببونه هر یو کولای شي، چې د لاسلیک کوونکو بشپړ رضایت او خپلواکه اراده تر سوال لاندې راولي او په وروستي تحلیل کې د تړون د بطلان لامل وګرځي. د یو تړون د بطلان د پورتنیو درې ګونو علتونو څخه، دوکه (غبن) او اجبار (خشونت) د ډیورنډ تړون په اړه مطرح دي.

الف. غبن یا دوکه په بېلا بېلو ډولونو رامنځته کیدای شي: په نړیوالو حقوقو کې بډې یا رشوت هم د دوکې یو ډول ګڼل کیږي. د بډې ورکولو موخه - د بډو ورکوونکي په ګټه د تړون اړول دي. د (۱۹۶۹م) کال د ویانا کنوانسیون په (۵۰) ماده کې بډې د لاسلیک کوونکو د آزادې ارادې، چې د تړون بنسټیز اصل دی، د سلبولو لامل ګڼلی دی. د ډیورنډ په موافقه لیک کې د مستر ډیورنډ له خوا افغاني لوري ته په بربنده توګه د مستمري په نامه، د بډو ورکولو اشاره شوې ده.

د ډیورنډ تړون په (۷) ماده کې راغلي دي:

(د هند دولت د هند په وړاندې د امیر حسن نیت ته هرکلی وایي او نومونړی ته اجازه ورکوي، چې خپل د اړتیا وړ وسلې د هند له لارې ترلاسه کړي... سربېره پر دې، د معاملې په برخه کې د امیر دوستانه دریځ له کبله، د هند دولت د امیر مستمري د (۱۲) لکه روپیو څخه (۱۸) لکه روپیو ته زیاتوي.)[42]

ب ـ اجبار او تشدد که په هر ډول سره، د تړون لاسلیک کولو په بهیر کې، د یو دولت د استازي یا پخپله د دولت په وړاندې موجود وي، د تړون اصولیت له ریښې څخه باطلوي. د ویانا کنوانسیون په (۵۱) ماده کې راغلي دي:

(هرهغه تړون، چې د یو دولت پر استازي باندې د ګواښ او فشار په وسیله وتړل شي، هېڅ ډول حقوقي آغېز نشي لرلی او بالکل باطل ګڼل کیږي.)

په بین المللي حقوقو کې د پخوا زماني راهیسې، د تړون د انعقاد په بهیر کې، پر بل دولت باندې هر ډول نظامي، سیاسي یا اقتصادي فشار، د تړون د بطلان لامل ګڼل شوی دی او په لاتیني اصطلاح ( لاکس لاتا ) افاده شوی دی.

د ویانا کنوانسیون په (۵۲) ماده کې نومونړی حقوقي حالت داسې بیان شوی دی: (هر هغه تړون، چې د ګواښ یا زور په کارولو پر بنسټ باندې تصویب شوي وي او د ملګرو ملتونو په منشور کې د منل شویو بین المللي حقوقي اصولو سره مخالفت ولري، باطل اعلانیږي.)

---

[42](هماغه) محمد آقا شېرزاد، مخ ۹۴

د تاریخ په اوږدو کې داسې تړونونه، چې د زور او زر له لارې تصویب شوي او بیا باطل اعلام شوي دي، خورا زیات دي او مثالونه یې په لاندې ډول دي:

- په (۱۹۰۵م) کال کې جاپان (سیول) اشغال کړ او کوریایي استازي یې دې ته اړ کړل، چې یو تحت الحمایه تړون ته غاړه کېږدي. تړون سره له دې، چې (۴۰) کاله تر اجرآ لاندې و، په (۱۹۴۵م) کال کې د جاپان د ماتې وروسته باطل اعلام شو.

- په (۱۹۳۹م) کال د مارچ په (۱۵) د چک سلواکیا ولسمشر (هاشا) او د هغه د باندنیو چارو وزیر، د هټلري آلمان تر فشار لاندې دې ته اړ شو، چې د یو تحت الحمایه تړون په چوکات کې، ( بوخوم ) او ( موراوی ) آلمان ته وسپاري.

د آلمان له ماتې وروسته، نوموړی تحت الحمایه تړون لغوه او نوموړي ایالتونه بېرته چک سلواکیا پورې وتړل شول.

د نورنبروګ نظامي محکمې هم، د (۱۹۴۶م) کال د اکتوبر په (۱) نیټه، د یو حکم په بنسټ، د نوموړی تړون بطلان سره خپل موافقت څرګند کړ[43].

- په (۱۹۴۱م) کال کې کمبودیا، چې د فرانسې تحت الحمایه دولت و، د جاپان تر نظامي فشارلاندې دې ته اړ شو، چې تایلنډ سره د پولو تثبیت په اړه یو تړون لاسلیک کړي. نوموړي تړون د کمبودیا ځمکنۍ بشپړتیا سخته تاواني کړې وه. په نړیواله جګړه کې د جاپان له ماتې وروسته، فرانسې اعلان وکړ، چې دا تړون د نظامي ګواښ تر فشار لاندې تړل شوی و او د تحت الحمایه نظام سره یو ځای لغوه دی.

امیرعبدالرحمان د ډیورنډ تړون لاسلیک کولو په وخت کې د سختو نظامي یرغلیزو ګواښونو سره مخ و: د بریتانوي هند حکومت په بیړې، د اورګاډي کرښه د چمن څخه کندهار او د پېښور څخه خیبر لوري ته غزوله او په کویټه کې یې په عسکري مانورونو لاس پورې کړی و. که د یو تړون د بطلان نور فکتورونه هیڅ په پام کې هم ونه ساتو، یواځې پر امیر باندې د افغانستان د نظامي اشغال فشار کفایت کوي، چې د ډیورنډ تړون خپل مشروعیت له لاسه ورکړي او باطل وګڼل شي.

### دریم مطلب: د نړیوال تړون د نسبیت اغېز په ډیورنډ تړون

په لاتیني حقوقي دود کې د تړون نسبیت په لاندې ډول څرګند شوی دی:

43 (هماغه) راجیف ډوګرا، مخ ۶۷

( nocentnec prosunt Pacta tertis nec ) يعني د دوو خواوو ترمنځ يو تړون د دريمني يا ثالث له پاره کومه وجيبه او حق نه زېږوي.

پدې مورد زيات تفصيل پکار دی ځکه، چې د ډيورنډ موافقه ليک د افغانستان او پاکستان ترمنځ نه، بلکې د تحت الحمايه افغانستان او حامي يا پروتکتور انګلستان ترمنځ منعقد شوی و. پاکستان د ډيورنډ د موافقه ليک د انعقاد په وخت کې، له سره موجود نه و. نړيوالې قضايي ادارې پدې متفقې دي کوم تړون چې د دوو هيوادونو ترمنځ لاسليک کيږي، پر دريمني هيواد باندې حقوقي آغيز نشي ښندلی. پدې مورد کې مثالونه خورا زيات دي:

الف - د (۲۰) پيړۍ په سر کې، آلمان د پولينډ (اوت سيليزي) سيمې باندې دعوه وکړه. د (بين المللي عدالت نړيوال ديوان) په (۱۹۲۶م) کال د مې په (۲۵مه) نيټه په خپل (۷) نمبر حکم کې داسې تجويز وکړ، چې: (يو تړون يواځې لاسليک کونکو دولتونو ته حق او مکلفيت ورکولی شي، ثالث دولت ته هيڅ ډول حق او مکلفيت نه شي ورکولی. د (عدالت بين المللي ديوان) هم نوموړې پريکړه تائيد کړه.

ب - د (۱۹۵۵م) کال د جولای په (۲۷مه) نيټه د يوې الوتکې د غورځيدو پيښې، د بلغاريا او اسراييلو ترمنځ شخړې رامنځته کړې، د عدالت بين المللي ديوان پدې هکله داسې حکم وکړ، چې د ديوان د اساسنامې د (۲۶) مادې پر بنسټ، هيڅ تړون د يو ثالث دولت په اړوند حقوقي اثر نه لري[44].

په نړيواله کچه، په بېلا بېلو قضيو کې د (بين المللي عدالت نړيوال ديوان) او د (عدالت بين المللي ديوان) پريکړې همېشه د نسبيت اصل پر بنسټ ولاړې وي.

د تاريخ په بهير کې، د دولتونو د اړيکو پراتيک هم، چې د ديپلوماسۍ او اعلاميو له لارې افاده کيږي، د تړونونو د نسبيت د پرنسيب تائيد ښيي.

ج - د (۱۹۴۵م) کال د فبروري په (۵) نيټه، د فرانسې ولسمشر جنرال دوګول د (يالتا) کنفرانس د جوړيدو په وړاندې وويل: ( فرانسه ځان د هغو تړونونو، چې د خبرو اترو په جريان کې يې ګډون نه درلود، د اجرا مکلف نه ګڼي.) همدارنګه په نړيوالو تړونونو کې د نسبيت اصل د تائيد په بنسټ، د (۱۹۷۵م) کال د اکتوبر د (۱۴مه) نيټې د (بن) په اعلاميه کې راغلي دي: (فرانسه، انګلستان، شمالي آيرلنډ او امريکا په ډاګه اعلاموي، چې د دوی ترمنځ تړل شوي تړونونه پرهيڅ ثالث دولت باندې حقوقي اثر نشي اچولی.) په پای کې، همدغه د محتوا ډک، مخکنی حقوقي دود او دستور، د ويانا کنفرانس د اعلاميې په (۳۴) ماده کې، داسې سجل وموند: (يو تړون د ثالث دولتونو په اړه هيڅ حق او وجيبه نشي رامنځته کولی.)

---

[44] (هماغه) پوهنوال منګل شېرزاد، مخ ۴۳

د ټولو پورتنیو توضیحاتو څخه دا په ډاګه څرګندیږي: د ډیورنډ ترون استعماري توطیه، چې اصلي اړخونه یې تحت الحمایه افغانستان او حامي یا پروتکتور انګلستان دي، له نیکمرغه، د پاکستان دولت د حقوقو څخه بهر پاتې کیږي.

لدې کبله، د ډیورنډ موافقه لیک پاکستان دولت ته هیڅ حق او وجیبه نه په برخه کوي[45].

**څلورم مطلب: د دولتونو د وراثت موضوع کې د پاکستان موقیف**

د (۱۹۷۸م) کال د ویانا کنوانسیون په (۱۵) ماده کې راغلي دي: ( په عادي او عمومي حالاتو کې کله، چې یو دولت د بل دولت ځای نیسي، وارث دولت د مخکني دولت د حقونو او وجایبو د میراث مستحق ګڼل کیږي.) دلته غوره سوال دا دی چې آیا هغه دولت (لکه پاکستان)، چې د استعماري دولت له منځه تګ وروسته، نوی رامنځته کیږي، د هغه ترون، چې د استعمار د واکمنی له خوا منعقد شوی و، یو اړخ شمېرلی شو؟

دلته موضوع د لاندینیو موضوعاتو د طرح کېدو له کبله پیچلې کیږي:

- د نوی دولت د خپلواکۍ (سوورنته)څرنګوالی؛
- د هغو دولتونو، چې استعماری دولت سره یې تړونونه لرل، د حقوقو خوندي ساتل؛
- په ځو اړخیزو تړونو کې، د بین المللي ټولنو د ګټو تامین.

(عمومی قاعده دا ده، چې د ښکیلاک د واکمنۍ څخه راپاتې نوی دولت د مخکني دولت د معاهداتو په وړاندې، د دریمني دولت حیثیت لري او د تړونونو د امتیازاتو او احیانا د وجایبو څخه ګټه نشي پورته کولای. په بل عبارت کله، چې د یو ترون یو اړخ له صحنې څخه حذف کیږي، ترون د خپلې پښتوانې څخه بې برخې کیږي او جنساً له منځه ځي.)

د بېلګې په توګه، د عدالت بین المللي دیوان په (۱۹۹۷م) کال د سپتمبر د (۲۵مه) نیټې په خپل حکم کې هغه ترون، چې په (۱۹۷۷م) کال د (دنیوب) سیند د شاوخوا ځمکو د ویش په هکله، د چکوسلواکیا او هنګري ترمنځ لاسلیک شوی و، لدې کبله چې د سلواکیا نوي جوړ شوي دولت په تاوان و، لغوه اعلان کړ.

د پورتنیو توضیحاتو څخه داسې څرګندیږي: د پاکستان دولت چې د بریتانوي هند استعماري واکمنۍ له نسکوریدو راوروسته جوړشو، د ډیورنډ موافقه لیک د مفاداتو څخه بې برخې پاتې کیږي. آن تردې، چې د ډیورنډ د کرښې په سر باندې د آغزن سیم غزول هم، د نړیوالو حقوقي

[45](هماغه) ذاهد خلیلي، مخ ۲۱

موازینو په خلاف عمل دی او هلته د پاکستان دولت هر ډول تحرکات د بین المللي حقوقي قواعدو سلامتیا او بشپړتیا ته تاوان نشي رسولی[46].

**پنځم مطلب: د یو تړون د اجرا او تطبیق پروسیجر پرتله د ډیورنډ تړون سره**

د دې لپاره، چې یو تړون عملي او تطبیقي بڼه غوره کړي، بېلا بېل پروسیجرونه موجود دي:

الف ـ د یو ثالث دولت ضمانت. د مثال په ډول، امریکا په (۲۰۰۱م) کال ، د اسراییلو او مصر ترمنځ د تړون د تطبیق ضمانت په غاړه واخیست.

ب ـ د څارنې بین المللي کمیسون جوړېدل. داسې کمیسون په (۱۹۵۴م) کال کې د ( ژنیو) د معاهدې په بنسټ، د لاوس د ناپیلتوب موافقه لیک د اجرا په مقصد جوړ شو.

ج ـ د موقوت بین المللي کنفرانس تدویر. دا ډول کنفرانس د ویانا د (۱۹۸۵م) کال کې د مارچ په (۲۲) د ویانا کنوانسیون له خوآ تجویز شوی دی.

د ـ د تحقیق کمیسون. دا ډول کمیسون د تړون د اړخونو څخه جوړېږي او د معاهدې د احکامو څخه د سرغړونو راپور جوړوي او بیا یې د عدالت نړیوال دیوان ته وړاندې کوي.

د ډیورنډ موافقه لیک د اجرآ په اړه کوم ضمانت نه و ټاکل شوی. بر خلاف د قراینو څخه څرګندیږي، چې موافقه لیک د همغه لومړیو ورځو څخه تر اوسه پورې په عمل کې وجود نه لري، پدې معنی چې:

الف ـ مخکې له دې نه، چې پاکستان د افغانستان له ببوسی څخه په ګټه اخیستو سره به یو اړخیز اقدام د کرښې په اوږدو کې اغزن سیم وغزوي، ولسونو د ډیورنډ د کرښې په دواړو خواوو کې بې پاسپورټه تګ او راتګ کاوه.

ب ـ آزاد قبایل په بشپړه توګه د پاکستان په سیاسي او حقوقي نظام کې نه دي جذب شوي. پدې برخه کې څو ځلي د پنجاب حکومت هلې ځلې د ناکامۍ سره مخ شوي دي. په قبایلي سیمو کې میشته پښتانه پوځ، عسکر او حکومت ته مالیه نه ورکوي او خپل ملي هویت یې ساتلی دی.

---

[46] (هماغه) پوهنوال منګل شېرزاد، مخ ۵۶

ج ـ د پښتون ژغورنې غورځنګ د حق غوښتنې اوسنۍ بیساري تحریکات دا ثابتوي، چې یو جلا ملي، سیاسي، کلتوري او تاریخي هویت په تصنعي توګه، جبرا پاکستان پورې تړل شوی دی.

د- د تاریخ په اوږدو او په ځانګړي توګه د مقاومت او جهاد په وخت کې، د لر او بر ولسونو ترمنځ جذباتي او عاطفي اړیکې د دې لامل شوې، چې د ډیورنډ کرښه په عمل کې له منځه لاړه شي[47].

**شپږم مطلب: د نړیوالو قوانینو په رڼا کې د ډیورنډ مشروعیت**

د ډیورنډ مسله که څه هم پر امیرعبدالرحمن خان یا په زور، او یا په مجبوریت منل شوې، خو اساسي مسله دا ده چې په ملي مسایلو کې یوازې ولسمشر یا پاچا واک نه لري، بلکې باید ولس ته مراجعه وشي.

که دا معامله په هر شکل ترسره شوې وي، خلکو رضایت نه درلود. کله چې د ډیورنډ معاهده لاسلیک شوه، د کوزې پښتونخوا خلک د ملا پیوند په مشرۍ کابل ته راغلل چې ښځې هم پکې شاملې وې. غوښتل یې امیرعبدالرحمن خان ته یې د نارضایتۍ په اړه ووایي، خو د امیر لخوا نا امیده ستانه شول بله خوا د افغانستان په دربار کې د بریتانیې مختار وزیر (سرفرایزرتاتلر) په خپل کتاب کې افغانستان نومیږي او په (۱۹۵۰م) کال کې په لندن کې چاپ شوی لیکي، چې د ډیورنډ کرښه د بې منطقه سیاست مظهر او روغې جوړې یو وچ سمبول دی. هغه وایي: د ډیورنډ کرښه تر محسنو عیبونه زیات لري او د اتنوګرافۍ (خلک پېژندنې)، پوځي او جغرافیایي پلوه غیر منطقي ده. امیر په نقشه کې او دا چې له کومو سیمو تیریږي، هیڅ نه دی پوه شوی. سره له دې چې د ډیورنډ له معاهدې څو لسیزې تېرېږي او زیاتو مورخینو پرې تحقیقات او څېړنې هم کړي دي، خو تر اوسه په هیڅ یو کتاب یا سند کې داسې څه نشته، چې مطلق یې تصدیق وکړي، چې دا تړون امیرعبدالرحمن خان لاسلیک کړی دی. که چیرته امیر دا تړون لاسلیک کړی وي، نو بیا ولې انګریزانو سره له دې چې هو کړه یې کړې وه، چې هر کال به افغانستان ته (۱۲) لکه روپۍ ورکوي، پر هغو باندې ۶ لکه په خپله نورې هم زیاتې کړې، چې جمله (۱۸) لکه روپۍ شوې.

امیر هم په وار وار پدې خبره ټینګار کړی چې دا لیکه نړیواله پوله نه ده، بلکې د دواړو دولتونو (افغان ـ هند) د نفوذ د سیمې د ټاکلو لپاره ښکل شوې ده، نو بیا ولې امیر ډیورنډ لاین د درېیمې پولې په توګه نه مني؟

---

[47](هماغه) حمد آقا شېرزاد، مخ ۹۲

ځیني بیا پردې اند دي چې ترون کله هم امیر نه دی لاسلیک کړی، بلکې تذویر او جعل پکې شوی دی، چې کېدای شي د امیر لاسلیک بل چا کړی وي.[48]

د انګریزي چلونو او پښتنو په اړه غبار لیکي: کله چې په (۱۸۹۳م) کال کې د امیرعبدالرحمن خان او انګریز استازي (ډیورنډ) لخوا د ډیورنډ معاهده لاسلیک شوه، د پښتنو لاسونه او پښې په بند په بند وتړل شول.

که څه د نړیوالو قوانینو له مخې ورته معاهده نه ویل کیږي، ځکه چې په زور او جبر په افغان امیر تحمل شوې وه، نو تحمیلي معاهدې د نړیوالو قوانینو له مخې اعتبار نه لري. د دې ثبوت دا دی چې امیرعبدالرحمن خان هغه وخت دومره مجبور و، چې له یوې خوا د تزاري روسیې، له بلې خوا د ایران او له بلې خوا د بریتانوي هند لخوا په خطرناکه جغرافیه کې ایسار و.[49]

امریکایي لیکوال لویي دپري لیکي: د امیرعبدالرحمن له هغه کلیماتو څخه چې اظهار یې کړی دی او ویلي یې دي، کېدای شي سړی دې نتیجې ته ورسیږي چې د افغان امیر لپاره د (۱۸۹۳م) کال ترون قانع کوونکی و، خو د نوموړي د ژوند لیک او اسنادو له لوستلو څخه څرګندیږي چې نوموړی ډیورنډ لاین د درېیمې پولې په توګه نه مني. امیر هم په وار، وار پر دې خبره ټینګار کړی چې دا لیکه نړیواله پوله نه ده، بلکې د دواړو دولتونو (افغان ـ هند) د نفوذ د سیمې د ټاکلو لپاره کښل شوې ده. ډاکټر پوهان حسین کاکړ په مستندو شواهدو دا حقیقت څرګندوي چې امیر په نوموړي ترون کې دا جمله چې د خپلو ادعاګانو څخه تېر یم نه ده لیکلې. تاریخي اسناد د دې حقیقت ښکارندوی دي چې آن ډیورنډ خپله هم د هندوستان سره د افغاني سیمو د تړلو خیال نه درلود، بلکې غوښتل یې هغه یې د نفو ساحه وي.

معاصر تاریخ پوه پرسي سایکس لیکي: ډیورنډ داسې وړاندیز نه و کړی چې ګوندې د هندوستان اداري پوله وړاندې وغځوي، بلکې دا کار یې یوازې محض د سیاسي کنترول موندلو لپاره کړی و.

مهتما ګاندي هم چې د هندوکش غره سر ته پورته شوی و، نو د غره پر سر یې سپینه خاوره لیدلې وه، هغه ته تم شوی و او ویلي یې و چې بس دا د افغانستان او هند ټک دی.

دې ټولو فشارونو امیر دومره تنګ کړ چې تر وهلو یې زغلول زیات وو. په مرګ یې ونیوه، تبې ته یې راضي کړ. انګریزانو د ډیورنډ معامله مخې ته راواړاندې کړه، چې دا غیور او سر کښه پښتون قوم تجزیه او پر ټوټو یې وویشي چې په راتلونکي کې د دوی د لارې خنډ نه شي. ډیورنډ معاهده خو لاسلیک شوه، خو که چیرې د ډیورنډ معاملې مفردات دقیق وکتل شي، نو څرګندیږي چې د امیر کله زیاته کارول کیږي. کله چې د ده په غیابت کې انګرېزان پرېکړه کوي او امیر جبرا په هغه طرحه لاسلیک کوي چې د پښتون پر وجود داسې توره کرښه

48 (هماغه) ذاهد خلیلي، مخ ۴۴
49 (هماغه) سخي سرور میاخېل، مخ ۳۲ـ ۳۳

راکاږل کیږي، چې یو وجود په څو برخو غوڅوي، نو هغه بیا د نړیوالو قوانینو له مخې د معاهدې حیثیت نه شي درلودای او له اعتباره لوېدلې ګڼل کېږي، خو بیا هم کله چې یو هیواد یا یو څوک ناتوانه او بې وسه وي، د معمولي پلمې له مخې هم ربړوني او ستونزې ورته پیښېدای شي، ځکه وایي چې د زور اوبه پر پیچومي خېژي. د همدې لاسلیک له امله چې د (۱۸۹۳م) کال د نومبر په (۱۲مه) ترسره کیږي، د امیر لاسونه او پښې بند په بند تړل کیږي.

انګریزانو چې د افغان جنګیالیو د مخامخ جګړې زور یې لیدلی و، نو په دې شیطاني کړنه یې پښتون ذلیل کړ.

د همدې پلان په عملي کولو پرنګیان تر ډېره خپلو موخو ته رسیدلي وو، چې له اوږدې مودې راهیسې یې د هغو خوبونه لیدل او اوس یې هغه خوبونه په ریښتیا بدل شول.[50]

**اووم مطلب: د ډیورنډ تړون مصوبه نه مسوده ده**

انګریزانو د امیرعبدالرحمن خان سره په (۱۸۸۰م) کال کې تړون وکړ چې ته به زموږ لپاره پاچاهي کوې، په کور دننه واک لرې چې هر څومره خلک وژنې، که هر څه کوې پرې کولای یې شې، لیکن د هیواد نه بهر به دې اختیارات زموږ سره وي زموږ په خوښه به کار کوې، د دې په مقابل کې یې ده ته (۱۲) لکه کالدارې معاش کیښود، په (۱۲) لکه کالدارو یې خپله واکمني او استقلال په دوی وپورل، بیا هم انګریزانو د افغانستان د بلې ټوټې د ترلاسه کولو لپاره د ډیورنډ دسیسه جوړه کړه، ډیورنډ یې واستاوه او هغه ته یې وویل چې امیرعبدالرحمن خان سره په دې برخه کې وغږیږه، د دې معاهدې په بدل کې یې ۶ لکه کالدارې نورې ورته زیاتې کړې.

د دې تړون یوه مسوده وشوه چې هغه هیڅ نوع قانوني جوړښت، حقوقي ارزښت نه لري، په داسې الفاظو شوې چې داسې به کیږي، هغسې به کیږي، او دا سیمې به زموږ کیږي.

داسې نه دي چې دا زموږ شوې او ته امضا پکې وکړې.

فقط یوه مسوده ده، په اسلام کې هم چې څوک چا سره ژمنه په انشالله کوي هغه ژمنه قاطع نه ده، د منلو نه ده پدې ترتیب پدې کې هیڅ قانوني سند نه برابریږي.

په هر ترتیب انګریزانو دا سند جوړ کړ او امیرعبدالحمن خان ته یې وړاندې کړ، امیرعبدالرحمن خان نقشې ورسره وکتلې لیکن په اینده کې د دې سند د تقویې لپاره انګریزانو وویل چې موږ به وخت په وخت دا ټولې پولې وټاکو.[51]

---

[50] (هماغه) ذاهد خلیلي، مخ ۶۷

[51] حبیب الله رفیع، ډیورنډ فرضي کرښه مقالو ټولګه (۱۳۹۶هـ ش) کابل، خپرندوی اکسوس کتابپلورنځی، مخ ۳۴ـ ۳۵

دوی وايي چې دا تړون امضا شوی دی، لیکن امضا شوی نه دی، ځکه چې مسوده ده، امیر عبدالرحمن خان ویلي دي چې زه به تر اخره پورې دا ونه منم، ده د ډیورنډ په اړه مسایلو کې دا لیکلي، دا پیشګویي یې کړې وه چې دلته به څه کیږي او څوک به راځي د ده په څنګ کې امیر عبدالرحمن خان یو شمیر سندونه چې د ده درباري او د ده منشي جعفر قندهاري نقل کړي دي په یو سرکاري کتاب کې چې په هغې کې ډیر سندونه دي، چې د ډیورنډ موضوع پکې تعقیب شوې ده، د هغه کتاب په شا کې لیکل شوي دي چې دا د سندونو کتاب پنځه ټوکه دی.

چې څلور ټوکه یې نشته او دا یو ټوک یې ترلاسه شوی او ما سره یې نقل موجود دی په دې کې د (۱۸۹۵م) کال نه (۱۸۹۷م) کال پورې خطونه او سندونه دي، چې وایسرای ده ته لیږلي دي چې د دغه ځای نقشه مې درواستوله دا ته وګوره، ده ورته لیکلي دي چې نقشه غلطه ده، دا کرښه غلطه ده، دا د تعهد خلاف ده، د یو کلي هدیره پاتې شوې او کلی بل خواته دی، کرونده یې په یوه خوا ده او کلی بل خواته دی، هغه خبره چې د اوبو په لوري به ویشل کیږي هغه نده پکې مراعت شوې نو پدې اساس دا نقشه بیرته مسترد شوه.[52]

په ځینو نقشو کې په ډېره شدیدو الفاظو ځواب ورکړی او شدید الفاظ یې ورته استعمال کړي، حتی د خیانت کلیمه یې ورته استعمال کړې، نو پدې اساس دغه د ډیورنډ مسوده امضا شوې ځکه نده چې ده جګړه ورسره درلوده او ده ویل چې دا به تر اخره دوام ورکوم او تر اخره به دا نه ورسره منم، نو په دې ترتیب د ډیورنډ تړون مسوده ده نه مصوبه.

د دې نه وروسته دا تړون ده په پټه ورسره کړی. مبارز صیب وايي امیر او ډیورنډ سره ناست وو ډیورنډ به ورته انګریزي متن ترجمه کاوه نور څوک پرې خبر نه وو، کله چې د وزیرستان خلک خبر شول، د ملا پیوند او د نورو په مشری ورته راغلل په ده یې اعتراض وکړ، احتجاج یې پرې وکړ چې ته څه حق لرې چې زموږ خاوره په انګریز خرڅه کړې، ده ورته په خواره خوله وویل چې خیر دی تاسو وزیرستانیان چې هر څومره غواړي راشئ افغانستان ته ځمکې درکوم، د دې نه علاوه د ډیورنډ موضوع یوه قواله ده، (۶) لکه کالدارې یې ورکولې د کال او ځمکې یې ورته اجاره کړې وه، دا پیسې یې هم په ډیر تکلیف ورکولې، پدې کتاب د سندونو چې ما سره دی راغلي، کله زر کالدارې ورته رالیږلي، کله یې په ډیر واړه حساب کې (۱۱۳۰) کالدارې فرضا پدې شکل یې دا پیسې ده ته رسولې او د دې نه مطلب دا و چې دی په دې پیسو وځوروي نو پدې ترتیب د عبدالرحمن خان لخوا دا سند نه دی منل شوی او وروسته له هغې کله چې انګریزان د دې سیمې نه وتل دوی قانونا د نړیوالو قوانینو له مخې حق نه درلود چې د افغانستان خاوره پاکستان ته وسپاري، ځکه چې د تړون یو لوری چې له منځه ځي بل لوری پخپله لغوه کیږي، بله خبره دا ده چې دوی یو غلط ریفرانډم وکړ، هندوستان منې که پاکستان، دا پکې نه وو چې خپله ازادي غواړې، فقط څو مزدورو، محدودو، معذورو، مامورو پښتنو او بلوڅو برخه پکې واخسته، په ریفرانډم کې

[52] (هماغه) میاخېل سخي سرور ، مخ ۶۵

نورو بایکاټ وکړ او بلاخره په بنو کې يې غونډه جوړه کړه او هلته يې وليکل موږ نه هندوستان غواړو نه پاکستان غواړو، موږ خپل ازاد ژوند غواړو چې بلاخره د آزاد ژوند کليمه د پښتونستان شو، اروابناد علامه حبيبي دې خداى وبښي، هغه ويل چې دوې پټانستان نوم ورته ايښی و ليکن موږ بيا ورته وويل د همغې نه پښتونستان رامنځته شو.

د استقلال لپاره چې کومه جګړه وشوه، انګريزانو سره چې کوم تړون شوی دی، په لومړي سر کې هغوې علي احمد خان غولولای و ليکن په دوهم ځل د دې تړون په پای کې يو ياداشت دی په دې ياداشت کې انګريزانو ليکلي دي چې موږ د افغانستان بشپړه آزادي تسليموو او ترديو وړاندې چې څه تړونونه شوي دي هغه ټول ملغا دي.[53]

**اتم مطلب: د ډيورنډ کرښې اخوا قومونو اړوند د انګليس سياست**

د لويې بريتانيې د (۱۹۴۶م) کال ټول ټاکنو کې د کارګر حزب برى ترلاسه کړ او کليمنټ اتلي د صدراعظم په حيث د وفادارۍ لوړه پر ځای کړه او د پارلمان په وړاندې يې په (۱۹۴۸م) کال کې د هند څخه د انګريزي عسکرو د ويستلو وعده وکړه، او ويې ويل چې د بريتانوي هند چارې به هندي وګړو ته وسپاري د هند وګړو ته دا يو ښه زيرى وو ځکه د تاريخ يوه اوږده دوره د هند ولس د انګريزانو د اسارت لاندې د خپلو حقوقو څخه بې برخې شوي وو، د هند په شمال لوديځ برخه کې (سوبه سرحد) کې د خدايي خدمتګار په نوم يو تحريک چې د کانګريس د رهبرۍ لاندې د (۱۹۳۱م) کال راپيدخوا په يو اتحاد کې سره شامل ول فعاليت درلود، انګريزانو د خپل تل پاتې سياست پربنا چې (تفرقه واچوه سياست وکړه) د هندوانو او مسلمانانو ترمنځ د اختلافاتو اور ته لمن ووهله، د قوموونو او مذهبونو د بيلتون لپاره يې د هر ډول وسيلې څخه کار واخيسته.

چې بلاخره د دې قومي او مذهبي حرکتونو لړۍ د پښتنو سيمو ته هم راورسيده پايله يې دا شوه چې د خدايي خدمتګار تحريک د افغاني مذهب پالو او ناسونالسستانو د شک او ترددد لاندې راغلل چې په دې قضيه کې د انګليس وروستی حکمران سرادف کير د شيطانت پوره رول ولوبولو او د خدايي خدمتګار ضد يې د يو تعداد خلکو احساسات راوپارول که د انګريزانو د عمومي کتابخانې ارشيف ته مراجعه وشي هلته به دا واضح شي چې د انګلستانو د سياسي ګډوډيو نه په ګټه اخيستنه د مسلمانانو سرنوشت يې د مسلم ليک په لاس کې ورکړو يو سياستوال ليکوال اندري سنګر داسې کاږي چې محمد علي جناح چې مسلم ليک مشرتوب يې په غاړه و د خداى خدمتګار تحريک په وړاندې په صوبه سرحد کې مبارزه پيل کړه.

په دې وخت کې خان عبدالغفار خان د اجمتماعي او فرهنګي مبارزې په تور بندي شو، د بند څخه د راخلاصيدو څخه وروسته بيا يې د بريتانوي د هغه جنايې قانون پر وړاندې مبارزه شروع کړه، د دې مبارزې پاڅون په جريان کې خان عبدالغفار خان يو ځل بيا بندي شو، د پاڅون لړۍ د ښاري سيمو څخه د سرحدي سيمو خواته وغزيده چې د دې پاڅونونو ټکولو

[53](هماغه) پوهنوال منګل شېرزاد، مخ ۳۵- ۳۷

لپاره انګلیسانو سر سید عبدالقیوم چې د مسلم لیک د تحریک غړی و د سرحدي صوبې د صدراعظم په حیث وټاکه، نوموړي صدراعظم د دې لپاره چې خپل مقام او چوکۍ ته مشروعیت ورکړي، نو پارلماني ټاکنو لپاره یې زمینه برابره کړه.[54]

په ټاکنو کې څو محدودو خلکو هغه چې د انګلیس لخوا تشویق شوي ول برخه واخیسته، ناروژي لیکوال جیئس وایي: دا ټاکنې د دې لپاره شوي دي چې هغه قومي مشران، نوابان او خانان چې د انګلیس اداري ورته د تش په نامه د خانۍ، نوابۍ او مشرۍ القاب او امتیازات ورکړي ول ترڅو همدا انګریزي فرمانبرداران د پارلمان چوکیو ته ورسوي، ولې ولس د دوی د اعمالو څخه پوره خبر وو،چې همدا لامل و، چې اکثریت یې رایې ونه ګټلې، په پای کې دوی په ولس کې نور ځای نه درلود او د انګلیس د بې وفایي څخه هم ناهیلي شول افغانستان ته راوتښتیدل او د افغانستان په سرحدي سیمو کې د ځمکو او جایدادونو په اخیستلو سره ځانته د ناستې ځای پیدا کړو، په نوموړو ټاکنو کې یوازې د خدایي خدمتګار تحریک بری ترلاسه کړ.

د خان عبدالغفار خان زوی ولي خان وایي چې د انګلیس حکمران سر جورج کنګهم له خبرو داسې معلومېده، چې نوموړي یو تعداد علما د پیسو په مقابل کې د دوی د تحریک په ضد ولمسول او هم یې نوموړو علماوو څخه ځینې غوښتنې درلودې چې لاندې کرښو کې ورته اشاره کوو:

الف: د اسلام بیرغ لاندې د محور قواو (المان، جاپان او ایټالیا) په وړاندې پاڅون وکړي.

ب: د پاکستان د حریم نه د دفاع په خاطر د هند کانګرس پر ضد ودریږي.

په هند کې د انګلیس حکمران به ویل چې دا بلکل ښکاره خبره ده چې کله د مذهبي او تبعیض په اصل ټاکنې رامنځته کیږي طبیعي ده چې اسلامپالې ډلې به د مسلمانانو تر شا ودریږي، نوموړي دوه ټکو ته هم اشاره کوله او ویل یې چې:

لومړی: د کانګرس په مقابل کې مسلمان شخص کاندیدیږي.

دویم: دا چې د قوم پال مسلمانانو پرضد د اسلام کلیمه استعمال شي، نو په دې اساس د قوم پالو تحریک په عوض په د مذهبي احساساتو لرونکي اشخاص د قدرت ګدۍ ته ورسیږي د هند ویسرا په هند کې د هند د وزیر لارد زیتلنډ ته په یو لیک کې په ښکاره ډول د خپلو سیاسي موخو څخه پرده پورته کوي او وایي: موږ دواړو ته دا ښکاره ده چې د مسلم لیک څخه بغیر بل مهم مسلمان شخص وجود نه لري... زه پوره یقین لرم چې هغه شخص په خپله علی جناح دی چې مونږ د هغه سره د مسلمانانو په اړوند ښه سیاسي معامله کولی شو.[55]

---

[54] (هماغه) محمد آقا شبرزاد، مخ ۶۵
[55] (هماغه) راجیف ډوګرا، مخ ۳۲

## نهم مطلب: د پښتنو په وړاندې د ټولپوښتنې دسیسه

انګریزانو ته نوره د هند خاوره دومره ګرمه شوې وه، چې د هند څخه د وتلو بله لار پاتې نه وه. د (۱۹۴۰م) کال د اګست (۱۷مه) وو، چې انګلیس د ماتې په توپان کې راګیر شوی وو، په دې وخت کې د افغانستان پاچا محمد ظاهر شاه د افغانستان بې پرې والی د نړیوالو غوږونو ته ورسولو یو انګلیسي ډیپلومات چې فرایزر نومېده د افغانستان په نوم کتاب کې لیکي چې (افغانستان بې طرفي په داسې حالاتو کې چې انګریزان په هند کې د هندي ولس د پاڅون سره لاس په ګریوان ول د خوشحالۍ زیری او قیمتي ډالۍ وه) د دې لوی احسان او قیمتي ډالۍ پر وړاندې انګریزانو د افغانستان حکومت په (۱۹۴۴م) کال کې اخطار ورکړ.

چې هغه الماني کارکوونکي چې ډیپلوماتان نه دي د افغانستان نه وباسي، ځکه د انګلیس د دې ادعا په اساس د هغه المانیانو موجودیت د افغانستان په سرحدونو کې د انګلیس عسکرو د تلفاتو سبب شوي.

په (۱۹۴۴م) کال کې مخکې له دې چې دویمه جګړه پای ته ورسیږي د افغانستان حکومت د هغه پښتنو د راتلونکي په اړوند چې د اباسین لویدیځ طرف کې میشت دي انګریزانو ته یو لیک واستولو، نوموړی لیک د انګلیس د سخت غبرګون سره مخ شو او د افغانستان حکومت ته یې ولیکل چې (د ډیورنډ کرښه یو نړیوال سرحد دی.[56]

په همدې اړوند کله چې د بریتانوي هند حکمران لارډ مونټ باټن د پېښور نه سملې ته روان وو په هند کې یې د یوې بیانیې په ترځ کې وویل چې پښتانه حق لري، چې د دوه انتخابونو څخه یو انتخاب کړي هغه دا چې پښتانه کولی شي چې د هند سره یو ځای شي یا له پاکستان سره، د پښتنو مشران وایي، چې موږ د دې سیاسي لوبې په نبض ښه پوهیدلو او دا فیصله مو وکړه چې که ټول پوښتنه کیږي، نو باید د حقیقي او ریښتني حق ورکولو او اصولو په سیوري کې دې وشي، یعنې د پښتنو صوبې ته دې دا حق ورکړل شي که فرضا پښتانه د هند او پاکستان سره یو ځای کېدل نه غواړي نو بیا دې د یو ازاد او مستقل پښتونستان غوښتنه هم د ټول پوښتنې په سیستم کې شامله کړي، د هغه وخت د افغانستان حکومت هم د بریتانوي هند استازي په طرحه اعتراض وکړ او هغه یې د پښتنو په حق جفا او دوکه وګڼله، پښتنو خپل غبرګون هم د انګلیسي اداري غوږونو ته ورسولو، ولې انګلیس ورباندې غوږ ونه ګروه او د صوبه سرحد پښتنو او آزادو قبایلو ته په ټول پوښتنه کې د رایې ورکولو حق ورنه کړل شو، د (۱۹۴۷م) کال په نومبر او دسمبر میاشتو کې د صوبه سرحد والي جورج کنګه د ازادو قبایلو په اړوند یوه جرګه جوړه کړه، چې د ازادو قبایلو په باره کې ورته ډاډ ورکړي، په (۱۹۴۷م) کال د جون میاشتې په درېیمه نېټه د هند د ویش اعلان وشو، انګریزانو د خپل استعماري خاصیت په لرلو سره یې د هند نه د وتلو وروسته سیمه کې داسې کړکېچن او بحراني حالت په میراث پرېښودل، چې په راتلونکي کې هم د همدې حالاتو څخه په ګټه اخیستو سره، دا سیمه د انګلیس د نفود لاندې پاتې شي، په (۱۹۴۷م) کال د جون په (۲۵مه) د

---

[56] (هماغه) پوهنوال منګل شېرزاد، مخ ۳۳۳ـ ۳۳۴

پښتونستان او بلوچستان مشران او علما سره په وزیرستان کې راټول شول او فیصله یې وکړه، چې دوی نه د هند او نه د پاکستان سره یو ځای کېدل غواړي، بلکې یوازې او یوازې د پښتونستان په نوم یو مستقل هیواد غواړي، د دې وروسته انګلیسانو په صوبه سرحد کې یوه نمایشي ټول پوښتنه وکړه، چې پښتنو ته یکې حق ورنه کړای شو، پایله دا شوه چې پښتانه تر نن پورې د خپل حق څخه محروم پاتې شول.[57]

**لسم مطلب: د اروپايي ټولنې مرستیال د ډیورنډ په کرښه دې بیا له سره کتنه وشي**

دنیا: غرب باید د ډیورنډ دوهم ځل کتنه وکړي او د افغانستان تاریخي حق وپېژني.

د کابل د ننۍ ورځې چاپي ورځپاڼو د اروپايي پارلمان د مرستیال وروستۍ څرګندونو چې د افغانستان د امنیتي وضیعت او ډیورنډ په اړه وې تمرکز کړی وو.

د دنیا ورځپاڼې په خپله نننۍ ګڼه کې لیکلي چې د اروپایي اتحادیې د پارلمان مرستیال په خپلو څرګندونو کې پدې ټینګار کړی چې غرب (لویدیځ) باید ډیورنډ ته یو ځل بیا کتنه وکړي او د افغانستان تاریخي حق وپېژني.

د دې مطلب په دوام کې راځي چې بزنس سټنډرډ نشر کړی یکې د اروپایي پارلمان د مرستیال ریچارډ چارنسکي له قوله لیکلي: چې د تروریزم د له منځه وړلو لپاره د دې وخت رسېدلی څو د واقعیتونو په نظر کې نیولو سره د ډیورنډ په اړه تجدید نظر وکړي او په اړه یې تصمیم ونیسي.

او همدارنګه زیاته یې کړه د دې لپاره چې ډیورنډ د نړیوال تروریزم په مرکز بدل شوی او له بلې خوا د افغانستان د داخلي سولې او ثبات لپاره اړینه ده څو امریکا او اروپا د دې سیمې په اړه په خپلو پالیسیو کې بدلون راولي، او زیاته یې کړه پاکستان کوښښ کوي د واک لپاره پدې سیمه کې بې ثباتۍ ته ادامه ورکړي.

هیواد: د هیواد دولتي ورځپاڼه پخپله سر مقاله کې د افغانستان په امنیتي وضیعت یې تمرکز کړی ویلي یې دي چې په افغانستان کې موجوده وضعیت او د داعش ډلې تحرکاتو د امریکا پام ځانته اړولی دی او د امریکا سیاسیون او نظامیان یې دې واداره کړي څو د افغانستان جنګ د جدي کتنې لاندې ونیسي.

په ادامه کې راځي چې د افغانستان په اړه د امریکا نوې ستراتیژي ولسمشر ټرمپ ته وړاندې شوې او په اړه یې وروستی تصمیم ونیسي. پدې مطلب کې راغلي چې کارپوهان پدې نظر

[57] (هماغه) راجیف ډوګرا، مخ ۳۳۵

دي چې د امریکا استخبارات دې نتیجې ته رسیدلي چې د افغانستان جنګ ته جدي پاملرنه وکړي.

اصلاح: د اصلاح ورځپاڼې پخپله سر مقاله کې لیکلي چې د افغانستان جنګ په هیڅ صورت داخلي نه دی او له پیله یې بهرنیان دخیل دي.[58]

**یوولسم مطلب: د ډیورنډ کرښې اخوا د پښتنو د مبارزو پایله**

په کومه ورځ چې د انګلیس استعماري قومونو د هند پر حریم یرغل وکړ د هند د نیمي قارې د ازادۍ تحریک سر راپورته کړو، بیلا بیلو قبایلو د انګلیسي عسکرو پر وړاندې خونړۍ جګړې وکړې، انګلیسانو هند ته د لومړۍ ورځې په راتګ سره پر افغانستان باندې درې ځلې یرغل وکړو، د دې سره ځنګ کې قبایلي وګړي ارامه پاتې نه شول او په انګلیسي قوتونو یې درانده ګوزارونه شروع کړل. همدا ډول د وزیرستان وګړي هم د پښتنو سره یو ځای شول او ګوریک کې یې د یو حکومت بنسټ کېښود او د انګلیس پر ضد یې پراخه جګړه پیل کړه، د دې ترځنګ په بنو، دېره اسماعیل او د نورو قبایلو په سیمو کې د انګلیس د پر ضد پاڅونونه وشول. فقیر ایپي میرزا علي خان د نوموړو قومونو د امیر په حیث وټاکل شو او خپلې اړیکې یې د سرحد پښتنو، د هغه وخت سیاسي اشخاصو، خدایي خدمتګار خان عبدالغفار خان او د جمیعت علماوو سره ټینګې کړې او د (۱۹۲۵م) کال نه تر (۱۹۲۹م) کال پورې یې د انګلیس پر ضد خونړۍ جګړې وکړې. یوازې په (۱۹۳۶م) کال کې انګلیس سره (۳۰) جګړې وشوې، په (۱۹۴۰م) کال کې انګلیس سره د جګړو تعداد (۱۱۹) ته ورسید او دوام یې درلود.

د کرښې اخوا پښتنو لخوا د یو مستقل دولت غوښتنه د افغانستان د حکومت د غوښتنې په خوا شوې وه. مولوي ظاهر شاه وزیر په خپل کتاب (د ازادۍ جګړه) تر عنوان لاندې لیکي (دا یو ښکاره حقیقت دی چې افغانستان یو لوی کور دی، د ټولو پښتنو لپاره لاربښود او پر سر یې سیور دی، مونږ پخوا ویلي و چې افغانستان د ټولو پښتنو ګډ کور او د هغوی د ارزوګانو او امیدونو ځای دی).[59]

همدا لامل و چې پښتنو فیصله وکړه چې یوه لویه جرګه کابل ته ولیږي، په نوموړې جرګه کې (۵۲۷) نارینه او یو تعداد شپین سرې مېرمنې هم شاملې وې، د جرګې غړي د خیبر درې له لارې کابل ته لاړل.

فرایزر تتلر د (افغانستان) کتاب لیکوال د ډیورنډ د تړون په اړه داسې لیکي، (د ډیورنډ کرښه د غیرې منطقي سیاست ځېره او د سولې یو وچ سمبول دی چې له کاره لوېدلی دی، چې په خپلو اطرافو کې یې ډېرې مسلې لاینحله پرېښودې).

---

[58] (هماغه) محمد آقا شېرزاد، مخ ۸۴ـ ۸۵
[59] (هماغه) ذاهد خلیلي، مخ ۳۲

په (۱۹۴۷م) کال کې د جون د میاشتې په (۲۱مه) د سرحد کانګرس غړي، د خدايي خدمتګارو مشران او د زلمي پښتون غړو په بنو کې د یوې جرګې په ترڅ کې دا پریکړه وکړه چې:

(د پښتنو یو مستقل حکومت جوړ شي، چې اساسي قانون به د دیموکراسۍ، برابرۍ او عدالت پر اصولو ولاړ وي، جرګې د ټولو پښتنو څخه غوښتنه وکړه چې موخې ته د رسیدو په خاطر په دې منشور سره اتفاق وکړي او د پښتون قوت نه غیر به د بل هیڅ قوت اطاعت نه کوي).

فقیر ایپي په (۱۹۴۸م) کال کې په خپله یوه بیانیه کې وویل چې پاکستان د انګلیسي ـ سیاست عملي کوونکی دی او محمد علی جناح د پاکستان استازی دی. د نوموړي د خبرو ځواب دا دی چې پاکستان د مغلګي سیمه بمباري کړه، د افغانستان حکومت د پاکستان په وړاندې غبرګون دا وښود چې لویه جرګه یې راوغوښته او د انګلیس او افغانستان ترمنځ چې کوم تړونونه شوي وو هغه یې لغوه او باطل اعلان کړل، همدارنګه د قبایلو حکومت چې په ګوریک کې یې جوړ کړی و د پاکستان حکومت ته اعلان وکړ چې خپل ټول قوتونه د پښتونستان له خاورې بېرون کړي او پښتانه ازاد پرېږدي، ولې د پاکستان حکومت نوموړي اعلان ته کوم اهمیت ورنه کړ او خپل حاکمیت ته یې دوام ورکړ.[60]

[60] (هماغه) پوهنوال منګل شېرزاد، مخ ۳۶۲ـ ۳۶۴

**وړانديزونه**

د دې څېړنې د تکميل څخه وروسته لاندې وړانديزونه لازم بولم:

1. د ډيورنډ معزلې د حل او پای ته رسولو لپاره د پاکستان حکومت ته پکار دي چې د کوزې پختونخوا پښتونو ته د خپل سرنوشت د ټاکلو حق ورکړي.

2. افغان حکومت بايد په نړيواله کچه د پاکستان لخوا په يو اړخيزه توګه پر ډيورنډ کرښه د اغزن تار لګولو موضوع راپورته کړي او د بنديدو غوښتنه يې وکړي.

3. افغان حکومت هغه افغان سياسيون او اشخاص بايد د جدي تعقيب لاندې ونيسي چې د ډيورنډ په اړه ناسمې ليکنې او څرګندونې کوي.

4. د ملګرو ملتونو او د بشر حقوقو نړيوال سازمانونه بايد د ډيورنډ کرښې هغې غاړې ته د پښتنو د مدني حرکتونو ملاتړ او هرکلي وکړي ترڅو هغوی د خپلو حقه حقوقو څخه برخمن شي.

5. د ډيورنډ کرښې پښتانه د ډيرو لويو ستونزو سره لاس او ګريوان کړي دي، ښه به دا وي چې د دواړو حکومتونو لخوا د باډر منيجمينټ پر ځای ورته د تګ راتګ سهولت برابر شي چې په اسانۍ سره وکولای شي چې خپلې ستونزې حل کړي.

**ماخذونه**


1. امله وال شېرعلم، د حامد کرزي لنډ مهاله او منځمهاله واکمني (۱۳۹۳هـ ش) جلال اباد، مومند خپرندویه ټولنه.
2. جبین مسرت، ډاکټر مظهر محمد سلیم، ګوریا ناهید اس د افغانستان او امریکا متحدو ایالتونو اړیکي د سپټمبر ۱۱ مي پیښنو ته یوه تاریخي کتنه، ژباړن: څېړنیار احمدزی محمد سرور (۱۳۹۲هـ ش) جلال اباد، مومند خپرندویه ټولنه.
3. حکیم زی ډاکټر بدرالحکیم، د پښتونخوا لنډه مطالعه (۲۰۱۸م) پېښور، خورونکی مشال پښتو ادبي ثقافتي ټولنه مټه سوات.
4. خلیلي ذاهد، د افغانستان او پاکستان اړیکي (۱۳۹۸هـ ش) جلال اباد، مومند خپرندویه ټولنه.
5. ډوګرا راجیف، ډیورنډ توره کرښه، ژباړن: بابرزی هیواد دوست (۲۰۱۹م) کابل، سولې خپرندویه ټولنه.
6. شېرزاد پوهنوال منګل، د نړۍ سیاسي مسایل دویم چاپ (۱۳۹۷هـ ش) جلال اباد، یار خپرندویه ټولنه.
7. شېرزاد محمد آقا، توره کرښه (۱۳۹۷هـ ش) کابل، خپرندوی خپله لیکوال.
8. لیکوالان بیلا بیل، ډیورنډ فرضي کرښه مقالو ټولګه (۱۳۹۶هـ ش) کابل، خپرندوی اکسوس کتابپلورنځی.
9. میاخېل سخي سرور، د آزادۍ ناري او د مغلګي غمیره (۱۳۹۸هـ ش) کابل، خپرندوی اکسوس کتابپلورنځی.
10. http://pason.at/pushto/?page_id=489
11. https://pajhwok.com/ps/2020/12/22/barbed-wire-to-prevent-terrorism-if-the-fear-of-an-afghan-above-and-below/
12. https://rohi.af/news/75414